د افغانستان
د څېړنې او
ارزونې اداره
څېړنه د به افغانستان لپاره

# د نارینه‌وو او نارینتوب پېژندنه

## په افغاني ټولنه کې د جنسيتي مساوات رامنځ ته کولو پر لور

منزه ابتکار

لیندۍ ۱۳۹۹



میا خان یو افغان پلار ده چی په خپل موټرسایکل ۱۲ کیلومتره لری سفر کوی ترڅو خپلی لورانی ښونځی ته ورسوی او هلته څلور ساعته انتظار باسی ترڅوهغوی له ښونځی نه رخصت شی او بیرته یی کورته ورسوی.

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره
موضوعي څېړنه

# د نارینه وو او نارینتوب پېژندنه:
# په افغاني ټولنه کې د جنسیتي مساوات رامنځ ته کولو پر لور

منزه ابتکار

لیندۍ ۱۳۹۹

| | |
|---|---|
| لیکوال: | منزه ابتکار |
| ژباړه: | احسان الله ځیرک |
| ISBN: | ۹۷۸-۹۹۳۶-۲۴۱-۲۳۱ |
| د خپروني کوډ | ۲۰۱۵پ |
| د پوښ انځور: | بي بي سي افغانستان |


©۱۳۹۹ د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره او د ملګرو ملتونو سازمان د میرمنو بنسټ

دغه خپرونه کېدای شي یوازې د غیری سوداګریزو موخو لپاره نقل، او یا بیا ځلې چاپ شي په دی شرط چې لیکوال او منبعه یې خبره شی. په دې څېړنه کې بیان شوي نظرونه د لیکوالانو دي او د AREU، ملګرو ملتونو سازمان د میرمنو بنسټ (UN Women)، د ملګرو ملتونو سازمان یا هغې پورې د اړوندو ادارو نظر نه څرګندوي.

که چیری دغه خپرونه بیا چاپ، ذخیره او یا بریښنایي بڼه یې لیږدول کیږی باید یو لینک یې د AREU کورپاڼې (www.areu.org.af") ته واستول شي. او یا هم د بریښنالیک او یا هم ټلیفون شمیری له لیاری اړیکه ونیسئ ۰۰۹۳۲۰۲۲۱۲۴۱۴.

# د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې په اړه

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره په کابل کې د څېړنو يو خپلواک بنسټ دی چې په ۲۰۰۲م کال په افغانستان کې د نړيوالې ټولنې له خوا جوړ شو. د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداری موخه د شواهدو پر بنسټ د لوړ کيفيت او په پالیسۍ پورې اړوند څېړنو برابرول او په فعاله توګه د دغو څېړنو د پايلو خپرول او همدارنګه د شواهدو پر بنسټ د څېړنو او زده کړې د کلتور خپرول دي. د افغانستان د څېړنی او ارزونی اداره ديوی غيرانتفاعی اداری په توګه د اقتصاد په وزارت کی ثبت شوی ده. د پنسيلوانيا پوهنتون د راپور پر بنسټ، د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره په افغانستان کې د يو څېړنيز بنسټ په توګه د لوړ مقام لرونکی ده او په منځنۍ آسيا کې د څېړنيزو بنسټونو په منځ کې په دريم مقام کې ځای لري. د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره د خپلې موخې د لاسته راوړلو لپاره د پالیسۍ جوړونکو، مدني ټولنو، څېړونکو او زده کونکو سره کار کوي چې دوی د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداری له څېړنو او کتابتون څخه ګټه پورته او د څېړنې په برخه کې خپله وړتيا لوړه کړي او د نظرياتو د څرګندولو، د شننو، او بحثونو لپاره لاره هواره کړي. د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره د مشرانو د بورډ لخوا چې د مرستندويه ادارو، سفارتخانو، ملګرو ملتونو، څېنې نوروسازمانونو، مدني ټولنو او د خپلواکو کارپوهانو استازي پکې شامل دي، اداره کيږي.

په همدې ډول، دغه اداره په برېتانيا کې د پروسپيکټ (Magazine Prospect) د مجلې د ۲۰۱۸ کال، د ډېرې ښې نړۍ واله څېړه نيزې ادارې جايزه ګټونکې شوه.

مالی مرسته کوونکې:

د دې ادارې مالی مرسته کوونکې د سويډن نړيواله پراختيايي اداره (SIDA) او لاندې نور نړيوال بنسټونه دي:

European Union (EU), Global Challenges Research Fund (GCRF), Central Asia Regional Economic Cooperation Institute (CAREC), The Foundation to Promote Open Society (FPOS), The Aga Khan University (AKU), The Royal United Services Institute (RUSI), Institute for Integrated Transitions (IFIT), and UN Women.

همدا راز دا اداره د لاندی نړيوالو بنسټونو غړيتوب هم لري:

RESOLVE Network, Global Challenges Research Fund (GCRF), Secure Livelihoods Research Consortium (SLRC), A Conflict Sensitive Unpacking of The EU Comprehensive Approach to Conflict and Crisis Mechanism (EUNPACK), ADB- Asian Think Tanks Network (ATTN), Sustainable Development Solutions Network (SDSN) and The Regional Environmental Centre for Central Asia (CAREC). For more information visit www.areu.org.af

Prospect Think Tank Awards
WINNER
International · Social

# د لیکوالې په اړه:

منزه ابتکار د اکسفورډ پوهنتون په جان کالیج کې د دکتورا نوماند ده. د نومړې د دکتورا تیزس موضوع په افغانستان کې د جګړې او یادښتونو تاریخي او توکمي مطالعه ده. نومړې له اکسفورډ پوهنتون د اوسني لوېدیځ منځني ختیځ په مطالعاتو کې ماسټري ترلاسه کړې ده.

# سریزه:

د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره (AREU)، خوښه ده چې خپلو درنو مخاطبینو ته په دې فرصت کې دغه مقاله وړاندې کړي: د نارینه وو او نارینتوب پېژندنه: په افغاني ټولنه کې د جنسیتي مساوات رامنځ ته کولو پر لور. دغه څیړنه په افغانستان کی د ملګرو ملتونو سازمان د میرمنو بنسټ (UN Women) په سخاوتمندانه مالي مرستې چمتو شوی ده.

په دې څېړنه کې دا راسپړو چې د بېلا بېلو ټولنیزو – اقتصادي، قومي – ژبنیو او عمر لرونکو ډلو افغان نارینه څه ډول د ټولنیزو – سیاسي او اقتصادي بدلونونو په ترڅ کې نارینتوب تنګوي او بیاځلي یې تعریفوي. مونږ په دې باوري یو چې د بیلابیلو نارینه وو او د نارینه توب د بدلون لپاره هغه نارینه چې عملاً د جنسیت په اړیکو کې ګټور دي کولای شي چې په افغانستان کې د جنسیت د نابرابروالي په ګوته کولو او عملي کولو کې ګټور تمام شي.

دا څېړنه په افغانستان کې د بېلا بېلو سیمو څخه د پنځو بېلا بېلو ټولنیزو – اقتصادي وضعیتونو، قومي – ژبنیو مخینو او عمر لرونکو سړیو له مخې ترسره شوې ده. دا پنځه موضوعي څېړنې د ژوند د کیسې په اړه د هغو ۱۸ له منځه غوره شوې، چې د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې د ۲۰۱۷ زېږدیز کال آنځور د یوې برخې په توګه ترسره شوې وې.

دا څیړنه یو څو عملي وړاندیزونو سره د لا ډیر بحث سره راپورته شوي، د ماشوم په پالنه کې مثبته مورولي او پلارولي په دې باندې اوږدمهاله اغېزه ښېندي چې هلک او نجلۍ ټولنیز شي. باید له ماشوم سره د پلار مثبت تعامل په موخه پراخ ملاتړ موجود وي او په دې برخه کې باید د ښوونځیو او مسلکي کسانو له لوري مشترک پېټي ته اوږه ورکړل شي. مدني ټولنه، رسنۍ او مذهبي ډلې هم کولای شي «نه یوازې ماشومان او ښځې، بلکې سړي هم له پلارولۍ څخه ګټه اخیستلی شي» پر مفهوم د ټینګار له لارې مسؤلیت منونکې پلارولۍ ته وده ورکړي. دغه کړنې به د کوچنیانو په رالوړیدو کې د والیدینو یو شان مسؤلیتونو کې مرسته وکړای شي.

مونږ باوري یو چې دا څیړنه به له هغو وګړو سره چې په افغانستان کې د جنسیتي پروګرامونو په پلي کیدو او ښه ورکولو کې بوخت دي مرستندویه تمامه شي او هغه کسان چې په دې برخه کې لیوالتیا لري د هغوی لپاره به یوه ښه مطالعه وي.

زه غواړم چې په دې فرصت کې د لیکوال او د هغه د پاملرنې مننه وکړم. همدارنګه د ښاغلو بیاسمونکو د فوق العاده تبصرو نظریاتو او وړاندیزونو څخه مننه وکړم چې د دې په لا غني کیدو کې یې له مونږ سره مرسته وکړه. زه همدارنګه غواړم د افغانستان د (UN Women)، څخه چې تل یې زمونږ د جنسیت کاري برخه کې له مونږ سره مرسته کړې مننه وکړم.



ډاکتره اورځلا نعمت

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداری رئیسه

# د موضوعاتو لیکلړ


سریزه ..... ه
لنډیز ..... ۱
په افغانستان کې نارینه او نارینتوب ..... ۳
څېړنیزه تګلاره (میتودولوژی) ..... ۵
روح الله ..... ۵
عبدالکریم ..... ۸
ناصر ..... ۱۰
نوراحمد ..... ۱۱
محمد خان ..... ۱۳
بحث ..... ۱۵
پایله ..... ۱۷
د نورې څېړنې لپاره وړاندیزونه ..... ۱۹
سرچینې او اخذلیکونه ..... ۲۰

## سریزه:

په دې څېړنه کې دا راسپړو چې د بېلا بېلو ټولنیزو – اقتصادي، قومي – ژبنیو او عمر لرونکو ډلو افغان نارینه څه ډول د ټولنیزو – سیاسي او اقتصادي بدلونونو په اړه کې نارینتوب تنګوي او بیاځلې یې تعریفوي. د بېلا بېلو نارینه وو او هغو سړیو پېژندنه چې له حاکم نارینتوب حالت د جنسیتي مساوات په موخه تېرېږي له جنسیتي نوښتونو د خبراوي په برخه کې له موږ سره ډېره مرسته کوي.

دا څېړنه په افغانستان کې د بېلا بېلو سیمو څخه د پنځو بېلا بېلو ټولنیزو – اقتصادي وضعیتونو، قومي – ژبنیو مخینو او عمر لرونکو سړیو له مخې ترسره شوې ده. دا پنځه موضوعي څېړنې د ژوند داستان په اړه د هغو ۱۸ له منځه غوره شوي، چې د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې د ۲۰۱۷ زېږدیز کال آنځور د یوې برخې په توګه ترسره شوې وې.

هغه درې اړین موضوعات، چې د دې پنځو موضوعي څېړنو په ترڅ کې موندل شوي، عبارت دي، له: ۱.ټولو نارینه وو د خپلې پالنې پرمهال د ښځو او سړیو ترمنځ جنیستي اړیکې تجربه کړې دي، چې دوی ورته په مثبته سترګه ګوري. ۲. ټول نارینه د جنسیت په اړه پر شته او بدلېدونکو ټولنیزو نورمونو پوهېږي. ۳. ټول نارینه په افغانستان کې د نارینتوبونو په اړه منځ ته راغلی پوهاوی تنګوي او بیاځلې یې تعریفوي. په دې څېړنه کې هغو لارو چارو ته اشاره کېږي، چې په ترڅ کې له بېلا بېلو اړخونو د بېلا بېلو نارینه وو له لوري نارینتوبونه رامنځ ته شوي، له منځه تللي او د وخت په اوږدو کې یې بدلون موندلای دی.

د زیاتې څېړنې په موخه سپارښتنې:

۱. د ماشوم په پالنه کې مثبته مورولي او پلارولي په دې باندې اوږدمهاله اغېزه ښېندي چې هلک او نجلۍ ټولنیز شي. باید له ماشوم سره د پلار مثبت تعامل په موخه پراخ ملاتړ موجود وي او په دې برخه کې باید د ښوونځیو او مسلکي کسانو له لوري مشترک پېټي ته اوږه ورکړل شي. مدني ټولنه، رسنۍ او مذهبي ډلې هم کولای شي «نه یوازې ماشومان او ښځې، بلکې سړي هم له پلارولۍ څخه ګټه اخیستلی شي» پر مفهوم د ټینګار له لارې مسؤلیت‌منونکې پلارولۍ ته وده ورکړي.

۲. په ښوونځیو او پوهنتونونو کې د جنسیتي مساوات په اړه د پوهنیزو پروګرامونو جوړول، هلکانو او سړیو لپاره د یادو موضوعاتو مناسبوالی روښانولای شي. دا پروګرامونه باید خوندي چاپېریال جوړ کړي چې خواخوږي رامینځ ته کړي ترڅو د جنسیتي موضوعاتو، ګرانښت او صمیمیت، وسلوالو شخړو او تاوتریخوالي په اړه خبرې وشي. دوی باید د جنسیتونو ترمنځ مساوات غښتلی کړي، بې تاوتریخوالي او له درناوي ډکو اړیکو ته وده ورکړي ترڅنګ یې هغه ستونزې روښانه کړي چې هلکان او سړي په افغانستان کې د اوسني جنسیتي وضعیت پرمهال، په تېره بیا د نفقه برابرونکي، ولي او پربکړه کوونکي په توګه ورسره مخ شوي وي. که څه هم دا کار ډېر پېچلی دی، ولې ځیني سړي په دغو شرایطو باندې بریالي شوي دي، نو باید دا پېچلتیاوې وازمایل، تحلیل او تر بحث لاندې ونیول شي.

۳. رسنۍ د نارینتوب او ښځینه توب په اړه د ذهنیت په رامنځ ته کولو کې بنستیزه ونډه لري. یو هر اړخیز او له کلتوري لحاظه برابر مخابراتي پلان باید په ټولنه کې د سړیو په ورځني ژوند کې د حاکم نارینتوب مفاهیم روښانه کړي. په دې ډول سړي او ښځې دواړه کولای شي چې جنسیتي سلسلې بیا ځلې وارزوي او انځور یې کړي او د جنسیتونو ترمنځ پر مساوات پوه شي چې دواړو لورو ته ګټور دي. رسنۍ په کورني چاپېریال کې د سړیو څرګنده مثبته ونډه او د دواړو جنسیتونو متوازن کاري ژوند دودولی شي ترڅنګ یې هغه سړي چې هلکانو ته د مثبت ونډې د بېلګو په جوړولو کې مرسته کوي باید وپېژني، کار ورسره وکړي او غښتلي یې کړي.

۴. له سړیو سره د یووالي له لارې د ځایي کچې ښځینه فعالیتونو، په نړیواله کچه او افغانستان کې، ستر پرمختګونه کړي دي. د ښځو حقوقو فعالان او د ښځو حقوقو ادارې باید په افغانستان کې له سړیو سره په ګډه کار وکړي څو د جنسیتونو ترمنځ مساوي او لږتاوتریخجنې اړیکې ورغوي.

۵. مثبت لید لرونکو یا هغو سړیو لپاره، چې په کورنیو، کاري چاپېریال او ټولنه کې د ښځو ملاتړي وي؛ د پېژند ترتیبول، ځوان نارینه دې ته هڅولای شي چې دوی په ټولنیزه او ملي کچه د تغییر د استازي او پېروۍ د موډل په توګه تعقیب کړي.

# لنډيز:

په ۲۰۰۱ زېږدیز کال کې د امریکا متحده ایالاتو په مشرۍ په افغانستان کې نظامي لاسوهنې له پراخو رغنيزو هڅو سره مل وه، چې په ترڅ کې يې دې هېواد ته د میلیاردونو ډالرو مرستې راغلې. د ښځو حقونو او د هغوی وضعیت پر ښه کېدو باندې پانګونې د دې بهرنیو مرستو د لومړیتوبونو په سر کې ځای درلود. د اټکلونو له مخې نېږدې یو میلیارد ډالر یوازې د جنسیتي نوښتونو په برخه کې پر مرستو لګول شوي دي. د دې پروګرامونو له ډلې تر ټولو پراخ او زیات لګښت لرونکی يې د پروموټ پروګرام و. یاد پروګرام په ۲۰۱۳ زېږدیز کال کې د ۲۱۲ میلیون ډالرو بسپنې په ورکړه پیل شو څو په حکومت، اقتصاد او مدني ټولنه کې د ښځو له لوري د مشرتوب په ترلاسه کولو کې مرسته وکړي.[۱] تردې مهاله د ۱۸ کلونو په تېرېدو افغانستان د جنسیتي مساوات د ودې نوملړ له مخې چې جنسيتي مساوات ته کتنه کوي، د ۱۸۹ هېوادونو په ډله کې ۱۷۰ ځای لري او د ۲۰۱۹ او ۲۰۲۰ زېږدیز کال د ښځو امنیت او سولې په نوملړ کې چې د ښځو وضعیت ته د محرومیت، عدالت او امنیت د معیارونو له مخې کتنه کوي، دویم وروسته پاتې هېواد ګڼل شوی.[۲]

له ۲۰۰۱ زېږدیز کال راوروسته د جنسیت له مخې مرستندویه نوښتونه، پالیسۍ او پروګرامونه پرته له دې، چې د جنسیتي جوړښت تړاو لرونکو اړخونو ته پام وکړي، ښځې يې یوازې په یوه کټګورۍ کې رامحدودې کړې دي. دې تړاو ته د شا اړولو په ترڅ کې ښځې او سړي د «ټولنې داسې بېلو بېلو برخو» په توګه تعریف شوي، چې په هغو کې د ښځې او سړي ژوند سره غوټه شوی دی.[۳] فمینسیتي (د ښځینه جنیست پلوي) منتقدان له ۲۰۰۱ کال راوروسته په افغانستان کې د بهرنیو هېوادونو درنه نظامي لاسوهنه له استبدادي او ظالمانه شرایطو د ښځو ازادولو لپاره له اخلاقي پلوه توجیه کوي.[۴] دا توجیه په هغه لیدلوري کې ریښه لري، چې له مخې يې ښځو ته د مظلومې طبقې یا قربانیانو په توګه کتل کېږي او افغان نارینه وو ته د تاوتریخوالي ترسره کوونکو او د ښځو ودې په لار کې د خنډ په توګه کتل کېږي. افغانانو ته د تاوتریخوالي، جګړې او وحشت ارتکاب له لیدلوري سره د افغانانو پر عملي ژوند د تجربي څېړنې په ترڅ کې مبارزه کېدای شي، چې د روانې اوږدې جګړې او شخړې، کډوالۍ او بېوزلۍ له کبله د ګڼ شمېر ټولنیزو تشویشونو سربېره بیا هم د یوه سړي په توګه مثبته ونډه اداء کوي.

د سړیو او نارینتوب سپړنه له ګڼ شمېر اړخونو د جنسیتي نوښتونو او پالیسیو په وده کې مرسته کولای شي. له جنسیت د یوې اړیکې په توګه درک د هغو سړیو او ښځو تجربې په ښه ډول په ډاګه کولای شي، چې له نر واکۍ نورمونو یا محروم دي یا هم ورسره جوړ نه دي.[۵] د دې ترڅنګ، پر هغه پروسه پوهېدل چې د خپلو تابعو ډلو په منځ کې ایډیال نارینه رامنځ ته کوي له خپل ځان او ژوند د سړیو د لیدلوري په وړاندې کولو کې مرسته کوي. بالاخره، لکه څنګه چې نارینتوب په ټولنیز لحاظ د ښځو په څېر منځ ته راغلی، د اغېزناکې لاسوهنې له لارې له منځه تللای شي.

---

۱ د افغانستان بیارغونې په چارو کې د امریکا متحده ایالاتو ځانګړی سرمفتش (سیګار). «افغان ښځې: یوې هراړخیزې پلټنې ته اړتیا ده څو د امریکا متحده ایالاتو د دفاع وزارت، حکومت او امریکا متحده ایالاتو د نړیوالې پراختیایي اداري پرمختګ په ډاګه او وارزوي. «د سیګار پلټونکی راپور، ۲۰۱۴ کال ډسمبر، مخونه: ۱۵-۲۴ د افغانستان بیارغونې په چارو کې د امریکا متحده ایالاتو ځانګړی سرمفتش (سیګار). «د ملي لومړیتوبونو په پروګرام کې د جنسیتي برابرۍ پراختیا(پروموټ): د امریکا متحده ایالاتو نړیواله پراختیایي اداره دې ته اړتیا لري څو د دغو ۲۱۲ میلیوني ډالرو پروګرام لاسته راوړنې او د دوی د ساتلو په برخه کې د افغان حکومت وړتیا وارزوي. «د سیګار پلټونکی راپور، ۲۰۱۸ کال سپټمبر، مخونه: ۱۸-۲۹. د افغانستان بیارغونې په چارو کې د امریکا متحده ایالاتو ځانګړی سرمفتش (سیګار). «د امریکا کانګرس ته مهالنۍ راپور. «سیګار، ۲۰۱۲ اکتوبر.

۲ د ښځو، سولې او امنیت په برخه کې د جیورج ټاون انسټیټیوټ او د اوسلو د سولې څېړنو انسټیټیوټ. د ښځو، سولې او امنیت د ۲۰۱۹ او ۲۰۲۰ کلونو نوملړ: د ښځو لپاره د محرومیت، عدالت او امنیت له لارې د تل پاتې سولې لټون. واشنګټن، ۲۰۱۹. http://hdr.undp.org/en/content/gender-development-index-gdi

۳ کانل. «د دروازې ساتونکو په منځ کې بدلون: په نړیوال ډګر کې سړی، نارینتوب او جنسیتي مساوات. «په ټولنه او کلتور کې د ښځو ژورنال ۳۰، ۳۱ مه ګڼه (۲۰۰۵): ۲۵-۱۸۰۱

۴ -- ابولغاد، لیلا. «ایا مسلمانې ښځې خوندیتوب ته اړتیا لري؟» کمبریج، ماسټرې: د هارورډ پوهنتون نشرات، ۲۰۱۳. بیلاوود، جولي. «کابل جشنواره: له جګړې په وروسته افغانستان کې جنسیتي سیاستونه. «فلادیفیا، د پنسلوانیا پوهنتون انتشارات، ۲۰۱۵. داولتازي، انیلا. «د افغانستان په اړه اعتراف کول. «کلتوري خوځښتونه ۱۸، ۳ مه ګڼه (۲۰۰۲): ۲۹۳-۳۱۱

۵ کانل. نارینتوبونه. بارکلي، د کالیفورنیا پوهنتون نشرات، ۲۰۰۵.

په افغانستان کې پر سړيو او نارينتوب څېړنه لا تراوسه ډېره کوچنۍ خو د ودې په حال کې برخه ده.[۶] ويپلمان، حکيمی او سادات هغو لارو چارو ته اشاره کوي، چې په ترڅ کې يې ښځې او سړي د بېلا بېلو خو يو له بل سره تړلو تګلارو له مخې په افغاني ټولنه کې د حقوقي اعمالو له مخې له جنسيتي ايډيال سره د نه تطابق له وجې مجازات کېږي.[۷] مارسډن بيا د هغو افغان سوداګرو له تګلارو پيروي کوي، چې د ايروشيا په ګوټ ګوټ کې پر سوداګرۍ بوخت دي، څو په تاريخي شاليد کې د دوی بدلېدونکې محتوا په وړاندې د دوی متنوع او بدلېدونکي ذهنيتونه راوسپړي.[۸] شيويندا بيا دا راسپړي چې څه ډول پښتانه نارينه معمولاً په ننګرهار کې د رواني جګړې په ټولنيزه – سياسي محتوا کې د نارينه توب پښتني مفهوم ترلاسه کوي، مخالفت يې کوي يا يې هم مني.[۹] له دې کبله تر دې دمه تر ټولو پراخ شموله څېړنه چې د افغانستان په ګڼ شمېر زونونو کې پر سړيو او نارينه توب ترسره شوې او خپره شوې ده د « جنسيتي نامساوات بل اړخ: په افغانستان کې سړي او نارينه توب» تر سرليک لاندې د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې او افغانستان لپاره د سوېډن کمېټې له لوري ګډه څېړنه ده.[۱۰] دا څېړنه پر هغو تجربي ارقامو ولاړه ده، چې د يادې څېړنې په ترڅ کې راټول شوي دي.

په دې څېړنه کې دا راسپړو، چې افغان نارينه څه ډول د ټولنيزو – سياسي او اقتصادي بدلونونو په ترڅ کې نارينتوب ننګوي او بياځلې يې تعريفوي. په تېره بيا دا څېړنه د بېلا بېلو ټولنيزو – اقتصادي، قومي – ژبنيو او عمر معيارونو له مخې هغو سړيو ته کتنه کوي، چې غواړي په خپل ژوند کې مثبتې جنيستي اړيکې تجربه کړي. د دې څېړنې اطلاعات له هغو مرکو راخېستل شوي، چې د ژوند داستان بيانولو تګلارې له مخې ترسره شوي دي. دا څېړنه د ۱۸ پراخ شموله مرکو له ډلې پر پنځو مقالو تمرکز لري، څو د دوی پر تېر ژوندانه پوه شو او په اوس وخت کې له جنسيتي ايډيال سره د دوی په ژوند کې له اړيکو او مسئوليتونو خبر شو. په فردي کچه د سړيو ژوندانه ته په ځغلند نظر سره کولای شو د ټولنې په وګړو کې هغه انساني تګلارې ووينو، چې په ترڅ کې يې سړي زامن، خاوندان، پلرونه او په ټوله کې د ټولنې غړي ځان حسابوي.

له دغو ټولو پنځو کسانو سره مرکې پر پنځو موضوعاتو راڅرخي: ۱. ټولو نارينه وو د خپلې پالنې پرمهال د ښځو او سړيو ترمنځ جنيستي اړيکې تجربه کړې دي، چې دوی ورته په مثبته سترګه ګوري. ۲. ټول نارينه د جنسيت په اړه پر شته او بدلېدونکو ټولنيزو نورمونو پوهيږي. ۳. ټول نارينه په افغانستان کې د نارينتوبونو په اړه منځ ته راغلی ذهنيت ننګوي او بياځلې يې تعريفوي.

د جنسيت له مخې د زياتو اغېزناکو نوښتونو لپاره د نارينه توب متنوع او بېلا بېل اړخونه، له سړيو کېدونکې تمې او د هغو سړيو پېژندل اړين دي، چې له جنستي انحصار په لاس اخېستنې عادلانه جنستي اړيکې تجربه کوي. دا څېړنه به له ذيدخل اړخونه لکه غيرانتفاعي سازمانونو، مدني ټولنو سازمانونو او پاليسۍ جوړونکو سره مرسته وکړي څو: الف) په خپل کار کې د سړيو او نارينتوب ارزښت ته پام وکړي ب) پر هغو لارو چارو پوه شي، د کومو په ترڅ کې چې کېدلای شي سړي د جنسيتي عدالت په ترلاسه کولو کې غوره ګډون ولري.

۶ ای چاويز، چونا. سيد مهدي موسوي او ليا ويلفريدا. «د جنسيتي نابرابرۍ بل اړخ: په افغانستان کې سړي او نارينتوبونه. ” کابل: د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره، ۲۰۱۲. حکيمي، عزيز او ټورن ويمپلمان. ” له انځور پاتې شوي: هغه نارينه چې په افغانستان کې د اخلاقي جرمونو له کبله بنديان شوي.» برګين، جرمني: چاليبز ميشلين انسټيټيوټ، ۲۰۱۸.مارسډن، ماګوس. « نارينه سوداګر: په يوريشيا کې د افغان سوداګروو په منځ کې راکړه ورکړه، انسجام او نارينتوب. « د منځني ختيځ لرغونپوهنه ۱۴ (۲۰۱۹): ۵۵-۷۲ مرتنين، هانري. « نورمونو او امنيت ته په ځير کتنه: په افغانستان کې سړي، نارينتوب، شخړه او د سولې ټينګښت. « څېړنيزه مقاله، د نړيوالو ګوابنونو او سولې ارزونی په برخه کې د څېړنو مؤسسه، ۲۰۱۸.

۷ مارسډن، هماغه

۸ مارسډن، هماغه

۹ شيبوندا ، انډريا. «د بېلا بېلو نارينتوبونو بدلول. د پښتانو افغان نارينه وو په منځ کې موضوعيت، اجنسي او کلتوري اصطلاحات. « ۲۰۱۸. شيبووندا ، انډريا. « نارينتوب: په افغانستان کې کلتور، جګړه او رواني اړخونه يې» اکسفورډ: د اکسفورډ پوهنتون انتشارات، ۲۰۲۰. شيبيوندا ، انډريا. « جګړې زموږ ټولنه ويجاړه کړې: نارينتوب، تاوتريخوالی او د پښتنو افغانانو په منځ کې د کلتوري اصطلاحاتو بدلون». په نني افغانستان کې: د څلوېښت کلنې جګړې اغېز. اېډېټ. نعمت الله شهراني، ۱۷۹-۹۹. بلوګمنټون، انديانا ، هندي پوهنتون انتشارات، ۲۰۱۸.

۱۰ ای چاويز، چونا. سيد مهدي موسوي او ليا ويلفريدا. «د جنسيتي نابرابرۍ بل اړخ: په افغانستان کې سړي او نارينتوبونه. ” کابل: د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره، ۲۰۱۲.

# په افغانستان کې نارینه او نارینتوب

نارینه توبونه، د بېلګې په توګه د یوه سړي بېلا بېلې بڼې او هغه چلن دی، چې د فردي او منظم ټولنیز چلن په ترخ کې یې خپلې کړې وي.[۱۱] د نارینه توب او ښځینه توب دواړو له ډلې هېڅ یو یې نه هم ساکن او نه هم مفرده بڼه لري: دوی ګڼ شمېر او بېلا بېلې بڼې لري، د بدلون په حال کې او متحرک اړخ لري. له دې کبله چې نارینه توب او ښځینه توب د ټولنیزو – اقتصادي او سیاسي پروسو د بدلونونو په اړه کې بدلون مومي، نو د نارینه توب او ښځینه توب نوې بڼې هم راڅرګندېږي. د کانل په وینا ، نارینه توب او ښځینه توب سره تړلي، ځکه له یو بل سره تعامل لري. د بېلګې په توګه، که په کومه کورنۍ کې چې یوازینۍ نفقه برابروونکې ښځه وي، دا چاره نه یوازې د ښځینه توب نوی مفهوم زېږوي، بلکې د نارینه توب مفهوم هم بدلوي.[۱۲]

کانل د حاکم نارینه توب په تړاو خبرو پرمهال، په دې ټینګار کاوه چې نارینه توب د مراتبو لړۍ لري.[۱۳] حاکم نارینه توب، د نارینه توب هغه نفوذي او لوړه بڼه ده چې سړي یې هیله لري او په یوه پلارواکه جنسیتي سلسله کې په ښځینه وو او بیواکه نارینه وو باندې د پراخ ټولنیز ځواک او واک سره مل وي.[۱۴] هغه نارینه چې حاکم نارینه توب نه مني، په ټولنیز ډول تر فشار لاندې دي او داسې انګېرل کېږي دوی هغه ځای ته نه دي رسېدلي، کوم چې نارینه توب ګڼل کېږي.[۱۵] شیبووینډا وایي چې په پښتنې ټولنه کې نرتوب (زړه ور سړی) څرنګه د خوښې وړ څیز دی. نرتوب له غیرت سره تړلی او «هغه استعداد او وړتیا ده چې د یوه کس نارینه توب څرګندوي.» د نارینه توب حاکمه بڼه، چې د بدلېدو او تغییر په حال کې ده، نه یوازې په ښځو بلکې په سړیو هم ناوړه اغېزې لري. اوږدمهاله جګړې او تاوتریخوالي په ټولنه کې حاکم نارینه توب رامنځته او د سپېڅلتیا وړ ګرځولی چې پر ښځو باندې تاوتریخوالي او د خپل زور ښودلو او ساتلو لپاره له تاوتریخوالي د ګټې اخېستنې په توګه پېژندل شوی.

په افغانستان کې، د لسیزو اوږدمهاله جګړې لهامله د مړینې، زېربناوو لهمینځه تللو او دغه راز بیځایه کېدو سره افغاني ټولنه او په ترخ کې یې جنسیتي اړیکې په ژوره توګه زیانمنې شوي. دې چارې په هغو نارینه وو باندې چې د خپلې کورنۍ نفقه برابرونکي دي (او تر خپلې وسې د خپلو مېرمنو او بچیانو د هوساینې مسؤل دي)؛ درووند پېټی اېښی دی.[۱۶] اذربایجاني مقدم په لاندې ډول په ټینګار سره ځینې تغییرات په ګوته کوي.

> اقتصادي تغییراتو ، د نارینه نفقه برابروونکو لهلاسه ورکولو یا نشتوالي له امله چې په ځانګړي ډول د ښځو له لوري اداره کیږي ډېر شمېر ښاري کورنۍ یې تر شا پرېښې، په تدریجي ډول د غربت ښځینه کولو ترځنګ چلندونه هم بدل کړي دي او دا چاره کومه ټاکنیزه چاره نه ده، ولې بیا هم ښځې د کورنۍ له اقتصاد سره مرسته کوي. پخوا به سړیو ته دا شرم و چې ټولې کورنۍ ته د نفقې چمتوکولو مسؤلیت له ښځو سره شریک کړي یا ورته له کوره بهر په فاسد چاپیریال کې د کارکولو اجازه ورکړي، خو د کلیوالي او ولایتي کورنیو او همدارنګه مختلف عایدات لرونکو نارینهوو، په تدریجي ډول ښځو ته د پیسو ګټلو یا بهرنیو مؤسسو سره د کارکولو د اجازې ګټه درک کړې ده ترڅو له دوی سره مرسته وکړي.[۱۷]

---

۱۱ کانل، هماغه اثر

۱۲ هماغه اثر.

۱۳ کانل او میژرشمیدت. « حاکم نارینتوب: پر مفهوم بیاځلې غور کول. « جنسیت او ټولنه ۱۹، ۶مه ګڼه (۲۰۰۵): ۲۹-۸۵۹

۱۴ هماغه اثر

۱۵ شیبووندا ، انډریا. « نارینتوب: په افغانستان کې کلتور، جګړه او رواني اړخونه یې» اکسفورډ: د اکسفورډ پوهنتون انتشارات، ۲۰۲۰.

۱۶ ای چاویز، موسوی او ویلفریدا: د جنسیتي نابرابرۍ بل اړخ

۱۷ اذربایجاني – مقدم، سیپي. « افغان مېرمنې د ۲۱ مې زېږدیزې پېړۍ په حاشیو کې.» په ملت جوړونه کې ورته پام نه دی شوی: په افغانستان کې مرستې، سوله او عدالت، ایډېټ: ډوني، ورمسټر او نیلانډ، ۹۵- ۱۱۲. بلومفیلډ، سي ټي، کامیرین انتشارات، ۲۰۰۴.

په ۲۰۱۲زیږدیز کال کې د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې له لورې ترسره شوې څېړنې موندلې وه چې د افغان سړیو په اړه عمومي درک دا سې دی چې دوی باید زړه ور او عزتمن وي، که څه هم د ټولنیزو توقعاتو سره سم ژوند تېرولو په ناکامۍ کې دوی د سپکښلتیا او ارزښت د بایللو احساس لري، چې د بې‌غیرتۍ او شرم لامل ګرځي.[۱۸] هغه سړی بې غیرته ګڼل کېږي، چې ښځونوکی وي یا عزت ونه لري، د بې‌غیرته سرچپه بیا عزتمن کس دی. د بې‌عزتۍ او شرم احساساتو دوام، ښځې او سړي دې ته مجبوره کړي، چې سختو جنسیتي اصولو او تمو ته غاړه کېږدي. دغه فشارونه ددې لامل شوي دي چې سړي په خپل کورني او ولسي چاپیریال کې د ښځو او نورو سړیو په وړاندې د تاوتریخوالي وسایلو ته مخه کړي، ترڅو خپل ټولنیز مسؤلیتونه اجراء کړي وښایي او خپل زور او په ټولنه کې ځانګړ شوی د نارینه توب مفهوم خلکو ته په ډاګه کړي.[۱۹]

څېړنې موندلې وه چې له وسله والو ډلو سره یوځای شوي او په تاوتریخوالي کې ښکیل نارینه، معمولاً هغه نارینه دي چې محدود اقتصادي فرصتونه لري او له غربته ځوربږي. په افغانستان کې د متحده ایالاتو د سولې انسټېټیوټ د ۲۰۱۸ زیږدیز کال لنډ ریپورت سره سم، د ناامنۍ او وزګارتیا لوړې کچې سره مخ ډېرېدونکی ځوان نفوس، ځوانان «خپلو کورنیو ته د خپلو محسوسو مکلفیتونو او دندو ترسره‌کولو له پاره په زیاتېدونکي توګه په تنظیم‌شوو جرمونو یا نورو غیر قانوني -ترډېره د تاوتریخوالي- کړنو کې لاس لري.»[۲۰] دا ښېلګه په نړیواله کچه په ګڼشمېر جګړه ییزو سیمو کې لیدل کېږي. د روندا په تړاو، سمرز ویل چې په غربت، ټولنیزې نابرابرۍ، تبعید یا شړلو، پوهې نشتون او نه خوځښت کې بېرزله او بې دندې ځوانان په اسانۍ سره د نسل وژنې په جرمونو کې ونډې اخېستو ته جذبېږي.[۲۱]

نورو قضیو لکه د لایبریا او سیرې لیون پرتله ییزو موندنو ښودلې ده، چې ځوانان جګړې ته د واده د وعدې له‌لارې جذب شوي.[۲۲] دا ښېلګه ډولن هغه وخت بیان کړه چې ادعا یې وکړه ځوانان «د هغه څه ترلاسه کولو لپاره، چې دوی ته یې له ورکولو ډډه شوې؛ جګړې ته مخه کوي» او «دا چې دوی ته اقتصادي فرصتونو ورکول د مشرانو له لورې رد شوي دي، نو ځکه د وسلو پورته کولو له‌لارې لنډې لارې ټاکي.»[۲۳] شیېووندا د افغانستان په اړه خپله څېړنه کې وایي چې په افغانستان کې د اوږدمهاله جګړې او تاوتریخوالي په پایله کې ظلم او سخت زړي توب د اخلاقي لید برخه ګرځېدلې او نارینه وو ته یې نوې تمې زېږولې دي. د ښېلګې په توګه، «د مېړانې او نارینتوب څرګندولو هیلې او تمې بیا ځلې راټوکېدلې دي او د پخوانیو دربیو لسیزو په واسطه رامنځ ته شوي ځېږ یا شدید معیارونه لا ویجاړ شوي دي.[۲۴]

دې مقاله کې تر بحث لاندې نیول شوو سړیو تاوتریخوالي ته نه مراجعه کول خوښ کړي او پرځای یې حاکم نارینه توب ننګولی دی او په بدلېدونکو ټولنیزو او کورنیزو شرایطو کې یې جنډري اړیکو په اړه خپل درک، له نورو متفاوت وړاندې کړی دی. د ټولنیزو بنسټونو په توګه د نارینتوب او ښځه توب بېلابېلو ډولونو پېژندل موږ ته راښیي چې دا څیزونه میراثي نه دي، خو په ځانګړي ډول د شرایطو بدلېدو پرمهال بدلېږي/بدلېدای شي.

---

۱۸ ای چاویز، چونا. سید مهدي موسوي او لیا ویلفریدا. «د جنسیتي نابرابرۍ بل اړخ: په افغانستان کې سړي او نارینتوبونه. " کابل: د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره، ۲۰۱۲.

۱۹ ابي رافع لینا. «هغه فرصت چې له لاسه ووت؟ د جنسیتي مساوات په ګټه مداخلو کې د سړیو ښکېلتیا: له افغانستان راپورته شوي غږونه. « د سولې ټینګښت او ودې ژورنال، دریېمه ګڼه. (۲۰۰۷). مخونه ۸۲ تر ۸۷.

۲۰ احمدي، بلقیس او رفیع الله ستانیکزی. « په افغانستان کې د نارینتوب بیاځلې تعریفول» د سولې لپاره د امریکا متحده ایالاتو انسټېټیوټ، د سولې لنډیز ۲۴۳، ۲۰۱۸.

۲۱ سومر، مارک. « د آفریقا کشرانو نارینه وو وېرول: نارینه ځوانان، شخړه، ښاریتوب، او د روندا قضیه. « د جنسیت بل نیمایي اړخ: په وده کې د سړیو مسایل. د نړیوال بانک ډلې انتشارات، واشنګټن، ۲۰۰۶.

۲۲ ریچارد پاول. « په جګړه او له جګړې وروسته رغونه کې ځوان نارینه او جنسیت: د لایبریا او سیرې لیون په برخه کې پرتله ییزې موندنې. « د جنسیت په بله نیمایي کې: په وده کې د نارینه وو مسایل، اېډېټ: ایان بونان اوو ماریا کوریا، ۱۴۲، واشنګټن، د نړیوال بانک ډلې انتشارات، ۲۰۰۶.

۲۳ ډولان، چاریس. « د نارینتوبونو نسکورېدل او کمزوري دولتونه – د شمالي یوګاندا موضوعي څېړنه. « هغه څه چې په نارینتوب کې اهمیت لري! سړي، جنسیت او وده، اېډېټ: ایف کلیور. دوربان: زیډ بوک، ۲۰۰۳.

۲۴ شیېووندا، انډریا. « نارینتوب: په افغانستان کې کلتور، جګړه او رواني اړخونه یې» اکسفورډ: د اکسفورډ پوهنتون انتشارات، ۲۰۲۰.

# څېړنیزه تګلاره (میتودولوژی)

ددې مقالې اطلاعات یا خام مواد له هغو ۱۸ پراخ شموله نیمه‌منظمو مرکو راخېستل شوي، چې د ژوند داستان تګلاره (life-history approach) په کې کارول شوې ده. دا مرکې د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې له لوري د ۲۰۱۲ زېږدیز کال د رېپوټ یوې برخې په توګه ترسره شوې دي. دا یوه هراړخیزه داخلي څېړنه ده چې د پرومنډو (Promundo) او ښځو په اړه نړیوال څېړنیز مرکز په واسطه پرمخ وړل شوې ده، چې په افغانستان کې د سړیو چال چلند په تړاو ترسره شوې ده. دا رېپوټ په افغانستان کې د نارینتوب په تړاو په بېلابېلو تصوراتو او له جنسي (نا)برابرۍ سره مرسته کوونکو لارو باندې تمرکز لري.

په ټولو ۱۸ هراړخیزو مرکو کې، اووه مرکې د بلوغیت لومړیو (۱۸ نه تر ۳۵ ) کلونو لرونکو یا نویو ځوانانو سره، اووه یې د بلوغیت منځنیو (۳۶ نه تر ۵۰) کلونو لرونکو یا پاخه عمر سړیو او څلور مرکې بیا د بلوغیت وروستیو (۵۱ نه تر ۶۵) کلونو لرونکو یا مشرانو سړیو سره شوي دي. په دغو ۱۸ مرکو کې پنځه کیسونه داسې انتخاب شوي چې د سړیو ټولنیز-اقتصادي وضعیت، قومي-ژبنی شالید او عمر ته په کتو تنوع لري. دا سړي د کابل له کلیوالي سیمو نیولې تر ننګرهار، تخار او د بامیانو تر کلیوالي سیمو پورې د افغانستان بېلابېلو برخو څخه ټاکل شوي وو. د راپور مطابق، دا سیمې په افغانستان کې د جنسیتي مسایلو سره په چلند کې د محافظه کارۍ او آزادخیالۍ جلا کچې لري.

د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې څېړنیزې ډلې له لوري ترسره شوې مرکې څلور اصلي موضوعات درلودل: (۱) داسې لارو پېژندل چې په کومو کې یوه کس ماشومتوب او کورنی چاپېریال، د جنډر په اړه د ګډونوالو نظر اغېزمنوي؛ (۲) په کاري چاپېریال کې د جنډري اړیکو په اړه د ګډونوالو د لیدلوریو معلومول؛ (۳) د ګډونوالو پر ژوند د تاوتریخوالي د اغېزو معلومول او؛ (۴) د ګډونوالو په نظر د هغو لارو پېژندل د کومو په واسطه چې د دودیز نارینتوب په تړاو د دوی درک له نورو متفاوت دی.

د ژوند داستان تګلاره (life-history approach) له موږ سره مرسته کوي، څو پوه شو، چې جنسیتي سلوک او چلند څرنګه یو له بل سره نغاړل شوي دي او د انفرادي اشخاصو د ژوندانه ناڅاپي اوښتونو پواسطه اغېزمن شوي دي. دا مقاله په افغانستان کې د جګړې، جبري کډوالۍ، چاپېریالي تغییراتو او بدلېدونکو جنډري تمو او اړیکو په ګډون د ټولنیزو-سیاسي او اقتصادي بهیرونو په تړاو د سړیو د تجاربو نرم (humanised) او په شرایطو برابر (contextualised) معلومات وړاندې کوي. د یوه ګډونوال په ژوند کې د ځانګړو پېښو د سمون او د یادو تجربو په تړاو د دوی د چلند د تغییراتو څرنګوالی راښیي. دا رنګه سړیو ته اجازه ورکوي چې په خپلو ادبیاتو وغږېږي، ترڅو د خپل ځان او خپل نارینتوب په اړه په وضاحت ورکولو ښه قادر وي.

## روح الله

۳۸ کلن روح الله په ختـه هزاره دی او د ښوونکي دنده ترڅنګ یې د کتابتون چارې پرمخ وړي. نوموړی په ۱۹۸۰ لسیزه کې کې د غزني ولایت په نغوږ کې زېږېدلی. روح الله د افغان - شوروي جګړې پرمهال رالوی شوی. یادې جګړې د نوموړي په کور کې پر جنسیتي چلن اغېزه کړې او بدل کړی یې دی. نوموړی زیاتوي، چې پلار یې د کلي دیني عالم و، په کابل کې د کمونېستي رژیم او شورویانو پرضد د جهاد له کبله یې په کور کې شتون نه درلود. په پایله کې دی تر ډېره وخته د خپل پلار له سیوري بې برخې و. آن تر دې چې وایي کورنۍ یې څو ځلې د پلار د وژل کېدو ګومان کړی و. د روح الله پلار نه شتون د دوی په کور کې د جنسیت ونډه او مسوولیتونو ته بدلون ورکړ. مور یې د پلار او مور دواړو مسوولیتونو ته اوږده ورکړه. دې کار له مور سره د روح الله پر اړیکو خورا اغېزه کړې ده. روح الله له خپلې مور سره د کور په کارونو کې مرسته کوله، چې د نوموړي په وینا پر ده یې مثبته اغېزه کړې ده.

مور يې په ژمي کې د سون توکو راټولولو په څېر د ده د پلار مسوولیتونو پرغاړه واخېستل. د پلار په نه شتون کې يې د کور چارو په اړه وروستۍ پرېکړه مور کوله، خو د پلار په شتون کې يې ډېره کمه له مور سره مرسته کوله. نوموړي د کور چارو پرځای هغه کارونه پرمخ وړل، چې له کور د باندې په نارينه وو پورې تړلي وو، لکه د ځمکې کرل. د دوی په کلي کې د خپل پلار مذهبي مقام له مخې نوموړی په ټولنيزو چارو لکه ماشومانو ( نجونو او هلکانو ) ته د ځايي ديني مدرسې تګ په برخه کې پر دعوت بوخت و.

روح الله په ماشومتوب کې له خپلې مور سره نېږدې و او د کور په کارونو کې يې ورسره مرسته کوله. پردې سربېره، نوموړي د خپل ځمکې مسوولیتونو ته هم اوږه ورکړه او په خپل کلي کې مدرسې ته، چې هغه مهال يې په کلي کې د زده کړو يوازېنۍ ځای و هم ورته. د ځګړې پرمهال د نوموړي ماشومتوب پالنې له مخې له جنسيتي ونډې او مسوولیتونو د نوموړي درک د پوهېدنې وړ دی.

> مور مې يو ځل د بخارۍ لپاره د سون توکي راټولول، ومې ليدل چې بوټان يې شلېدلي دي. ما ورته وويل: له نن وروسته زه مدرسې ته نه ځم. دي راڅخه وپوښتل: ولې؟ما وويل: زه به له تا سره ځم او د ژمي لپاره به د سون توکي راټولوم. دي په ډېرې ارامۍ ځواب راکړ او ويې ويل: ته بايد د ژمي لپاره لرګي او نور د سون توکي راټول نه کړې، ځکه دا ستا مسووليت نه دی. که چېرې ته زما نصيحت ته غوږ کېږدې او زما هيله پوره کړه، زما لپاره بسنه کوي. زه غواړم چې ته يو لوستی شخص واوسې[...] زما له انده د يوې ښځې ونډه ډېره اړينه ده، په تېره بيا په ټولنه کې د خپلو ماشومانو په تړاو، ځکه ښځې د يو ماشوم د لوست او ټولنيز چلن په غوړېدا کې د پام وړ رول لري. زما مور او خور زما په ژوند کې خورا مثبته ونډه لوبولې. دوی ماته د کار کولو اجازه رانکړه، پرځای يې زه زده کړو ته وهڅولم او زما لاسنيوی يې وکړ او د زده کړو لپاره يې فرصتونه راته چمتو کړل. زه له خپلې خور او مور منندوی يم.[۲۵]

د روح الله پورته داستان چې مور يې زده کړو ته هڅولی او مور يې هغو مسوولیتونو ته اوږه ورکړې، چې په دوديزه توګه د هغې پرغاړه نه وو، موږ ته پر جنسيتي ونډې د پوهېدو په برخه کې هغه اندازه راڅرګندوي، چې نوموړې پرې اغېز پرېباسلی دی. نوموړی د خپل ژوند فرصتونه او د ښځو په تړاو خپل مثبت ليدلوری له خپلې مور او خور سره تړلی ګڼي.

روح الله او کورنۍ يې په ۱۹۹۰ لسيزه کې د طالبانو له لوري د هزاره ګانو سيستماتيکې وژنې له کبله ايران ته کډوال شول. روح الله او کورنۍ يې د اقتصادي او سياسي دواړو لاملونو له کبله کډوال شول. له هزاره توکم سره د تړاو لرلو له کبله روح الله او کورنۍ يې په افغانستان او ايران دواړو هېوادونو کې له تبعيض سره لاس او ګرېوان شوي دي. په ايران کې افغان کډوال له ګڼ شمېر تبعيضونو او ناوړه چلن سره مخ کېږي: دوی ته يوازې په نامناسبو او کمې حق الزحمې لرونکو ځايونو کې د کار کولو اجازه شته او ښوونځي ته په تګ کې له ګڼ شمېر سترو خنډونو سره مخ دي.[۲۶] پردې سربېره، په ايران کې د کډوالو ضد احساساتو او ذهنيت له کبله روح الله ټولنيزو محدوديتونو ته اشاره کوي. د بېلګې په توګه د کډوالو او ځايي وګړو ترمنځ د ټولنيزو مراتبو لرې له کبله له ايراني نجونو سره تعامل له محدوديتونو سره مخ دی. کله چې روح الله غوښتل ښوونځي ته لاړ شي، د افغانانو په وړاندې د تبعيضي قوانينو له کبله د ده په مخ کې پروت يوازېنی انتخاب په قُم کې ديني مدرسه وه. نوموړي په قُم کې خپلې ديني زده کړې بشپړې او افغانستان ته راستون شو. له راستنېدو وروسته يې په کانکور ازموينه کې د ګډون له لارې په کابل کې ابن سينا پوهنتون ته لاره پيدا کړه.

د روح الله په اوسنۍ کورنۍ کې له دوو لوڼو او دوو زامنو سره د ده د ماشومتوب په پرتلې جنسيتي چلن ډېره متفاوته بڼه لري. د ده په وينا د نوموړي ماشومتوب روزنې او ديني زده کړو د ده له مېرمنې او ماشومانو سره د ده پر اوسنيو اړيکو د پام وړ اغېزې لرلي دي.

---

۲۵ مرکه، د ۲۰۱۷ کال د نوامبر په دويمه

۲۶ د بشري حقونو د څار ډله. « نابللې ميلمه: د ايران له لوري د افغان کډوالو او کوچېدلو خلکو د حقونو تر پښو لاندې کول. « د ۲۰۱۷ زېږديز کال د اکتوبر ۹ مه. www.hrw. unwelcome-guests/irans-violation-afghan-refugee-and-migrant-rights/۲۰/۱۱/۲۰۱۳/org/report

> ما د نجونو او هلکانو ترمنځ د توپير رېښې وچې کړي دي. د بېلګې په توګه زه په کور کې کار کوم او له خپلې مېرمنې سره د کور په ورځنيو چارو کې مرسته کوم. زه خپلو ماشومانو ته خواړه تیاروم، د دې ترڅنګ که څه هم زه غواړم کالي ووينځم، خو مېرمن مې د دې کار اجازه نه راکوي. زه دا کارونه يوازې د دې لپاره کوم، څو خپلو ماشومانو ته ورزده کړم چې په کورنۍ کې د نجونو او هلکانو ترمنځ کومه برترې وجود نه لري، دوی بايد په ګډه کار وکړي او د يو بل لاسنيوی وکړي. زه خپل ماشومان په همدې ذهنيت او چلن رالويوم. د دې ترڅنګ کله چې زما ماشومان کشران وو، ما د کور لوښي او د دوی کالي هم وينځل. ما خپل زامن په داسې ډول رالوی کړي، چې دوی فکر نه کوي چې خور يې کمه وړتيا لري. دوی بايد يو بل ته درناوی وکړي.[۲۷]

جنسيت ته له پام پرته روح الله خپلې کورنۍ ارېکې په داسې بڼه رامنځ ته کړي، چې له هغو بېلا بېلو لارو چارو درک په کې موجود دی، چې په ټولنه کې د نورو خلکو له لوري ترې پيروي کېږي. له کور د باندې هم روح الله له خپلو ښځينه همکارانو سره د يو استاد او کتاب وال په توګه له کومې ملاحظې پرته تعامل کوي او چټ ورسره کوي، په تېره بيا کله چې د نورو کارونو ترڅنګ په خپلو کورنيو موضوعاتو کې ترې مشوره غواړي. نوموړی په تېره بيا ښځينه محصلې دې ته هڅوي چې له شته ټولنيزو خنډونو سره سره زده کړې او سخت کار وکړي. په ورته ډول نوموړی په دې باور نه لري، چې کار بايد د جنسيت له مخې ووېشل شي:

> موږ نه شو کولای چې نجلۍ يا ښځه يوازې تر نرستوب يا ډاکترۍ رامحدوده کړو. ښايي دوی نورې وړتياوې ولري. د بېلګې په توګه اوسمهال موږ ډېرې داسې مېرمنې لرو، چې انجينرۍ يې لوستي او د سړيو په پرتله ډېرې تکړه دي. له دې کبله موږ بايد ښځو او نجونو ته اجازه ورکړو، چې په خپله خوښه ځانګه انتخاب کړي.[۲۸]

له ښځينه محصلينو او همکارانو سره د روح الله تعامل او مشارکت پر هغه تګلاره اغېزه کوي، چې نوموړی يې د جنسيتي کار څخه په درک کې لري. که څه هم نوموړی په خپل کور کې جنسيتي مساوات په پام کې نيسي، خو خپل ځان يو دوديز شخص ګڼي. روح الله وايي، چې په کور کې د ښځې او ماشومانو لپاره د جنسيتي عدالت رامنځ ته کول په دې معنا نه دي، چې نوموړی دوديز شخص نه دی. د دې ترڅنګ نوموړی نه غواړي چې ماشومان يې په داسې ډول رالوی شي لکه څه ډول چې دی رالوی شوی او دی د خپلې کورنۍ لپاره غوره تحصلي او تعليمي فرصتونه غواړي. که څه هم دی په دې پوهېږي، چې په ټولنه کې نور خلک به ورته د يو غيردوديز وګړي په سترګه ګوري.

> يو ځل مې مېرمنې راته وويل، چې ځينو خپلوانو راته ستا په اړه څه وويل. دوی وويل، چې زه يو متفاوت شخص يم او له خدای (ج) مې فاصله پيداکړې ده. ما له خپلې مېرمنې وپوښتل: تا هغوی ته څه وويل؟ هغې ځواب راکړ، چې هېڅ ډول عکس العمل مې نه دی ښودلی[...] ځيني خلک په دې باور دي، چې ما له خدای (ج) سره فاصله پيداکړې ده. ځيني وختونه چې زما ملګري زما کور ته راځي، زه دوی ته وايم، چې کيدای شي له دين نه د تاوتريخوالی د هڅولو په خاطر استفاده وشي. ما دوی ته د ۱۱ ټولګي درسي کتاب وښود، چې په کې ويل شوي وو، که چېرې يوه نجلۍ د خپل پلار له لوري نه وي روزل شوې دا بيا د خاوند مسووليت دی څو نوموړې وروزي. زما په اند کله چې يوه نجلۍ واده کوي، نوموړې بايد خپل ماشومان وروزي، اړتيا نشته چې دې د بل چا له لوري وروزل شي.[۲۹]

د نورو په اړه د روح الله ليدلوری د هغه په ژوند کې د شخړې منځ ته راتګ لامل ګرځېدلای، ځکه د هغه ځينې خپلوان ورسره اړيکې نه ساتي. خو لا تراوسه هم نوموړی هغوی ته کوم مزاحمت نه کوي، ځکه دی په دې باور دی، چې د خدای (ج) پر سمه لاره روان دی او دا په ټولنه کې يو عامه منل شوې خبره ده، چې په کور کې د جنسيتي عدالت له مخې د چاپېريال رامنځ ته کول ګټور دي. نوموړی زياتوي، چې په يوه نارينه واکې ټولنه کې سړي ښځو ته د دويم جنسيت په سترګه ګوري.

---

۲۷ هماغه سرچينه

۲۸ هماغه سرچينه

۲۹ هماغه سرچينه

## عبدالکریم

۲۸ کلن عبدالکریم په خټه پښتون دی او په پلازمېنه کابل کې د تلکام په برخه کې کار کوي. نوموړی په ۱۹۹۰ لسیزه کې د پلازمېنې کارته نو په سیمه کې په یوه متوسطه کورنۍ کې زېږدلی. د نوموړي والدینو د خپلې کورنۍ غړي لوړو زده کړو ته هڅولي او کورنۍ یې د شوروي اتحاد له یرغل وړاندې شتمنه وه. څرنګه چې د نوموړي ماشومتوب دوره په ۱۹۹۰ لسیزه کې تېره شوې، په پلازمېنه کابل کې کورنۍ جګړې دی او کورنۍ یې دې ته اړ کړل څو خپل ټاټوبي ننګرهار ته په پټنو کډه شي. د وضعیت له ښه کېدو سره سم له دوو کلونو وروسته دوی بېرته کابل ته راستانه شول او یوازې هغه مهال بېرته ننګرهار ته ستانه شول، چې د ۱۹۹۰ لسیزې په منځنیو کې طالبانو د چارو واګې په لاس کې واخېستې. له پخواني رژیم سره د ده کورنۍ د تړاو او په ۱۹۹۰ لسیزه کې د حکومتي دندو د نشتوالي له کبله د نوموړي پلار شخصي کاروبار پیل کړ او په بازار کې یې د اسعارو تبادله کوله څو خپلې کورنۍ ته یوه مړۍ ډوډۍ پیدا کړي.

عبدالکریم د خپل ماشومتوب پرمهال د خپلې کورنۍ چلن ډېر سخت دریځه معرفي کوي، ځکه پلار یې د یاد وخت سیاسي شرایطو له کبله ډېر په اندېښنه کې و. د کورنۍ جګړې له کبله ناامني ډېره وه او دوی د ژوند په ټولو ډګرونو کې له ډېرو محدودیتونو سره ژوند کړی. نوموړی وایي، چې پلار یې ډېر کم په غوسه شوی، له دې کبله یې پر دوی یې ډېر کم محدودیتونه وضع کړي دي.

> پلار مې زموږ په وړاندې ډېر سختګیر و، ځکه هغه چاپېریال چې موږ په کې استوګنه درلوده، ډېر خطرناک و. نوموړی په دې کې ډېر حساس و څو په ټولنه کې له ستونزو سره زموږ له مخامخ کېدو مخنیوی وکړي[...] په یاد وخت کې د ماشومانو تښتونې، امنیتي موضوعاتو او تر ټولو اړینه دا چې د اخلاقي ستونزو په ګډون په ټولنه کې ډېرې ستونزې موجودې وې [...] زما پلار باید خپلو ماشومانو ته که نجلۍ وه یا هلک زیاته پاملرنه کړې وای. حتی د یوه هلک لپاره دا ډېره ستونزمنه وه، چې له کور د باندې ووځي، ځکه ټولنیز چاپېریال له ډېرو اخلاقي ستونزو ډک و، حتی که چېرې یو هلک له کور د باندې وتلای د ناسمو خلکو لاس ته لوېده، پر نشه یي توکو روږدی کېده یا هم په ټولنه کې د نورو هلکانو له لوري د جنسي غلامۍ له خطر سره مخ کېده. له دې کبله زموږ پلار د موږ په مقابل کې ډېر سخت دریځه و. نوموړي موږ ته یوازې ښوونځي ته د تګ لپاره له کور د باندې اجازه راکوله، نور ډېری وخت په کور پاتې کېدو. اوسمهال چې زه رالوی شوی یم، د خپل پلار د سخت چلن ترشاه پر دلیل پوهېږم، زه پر هغو محدودیتونو خوشاله یم، ځکه ما به اوس یو متفاوت ژوند درلودای او یا به هم داسې بریالی شخص نه وای، لکه اوس چې یم.[30]

د عبدالکریم داستان هغو ستونزو ته اشاره کوي، چې د جګړې او کډوالۍ له کبله ورسره مخ شوی. له کمونېستي رژیم سره د ده د پلار تړاو له ۱۹۹۲ کال راوروسته په نوي سیاسي نظم کې د هغه دنده او د ژوندانه شرایط له خطر سره مخ کړي دي. د دې ترڅنګ نوموړی هغو محدودیتونو ته هم اشاره کوي، چې پلار یې د کورنۍ جګړې په اوج کې پر خپلو ځوانو زامنو په خپل پلرني ټاټوبي ننګرهار کې د اخلاقي ستونزو له کبله وضع کړي وو. نوموړی دا په ډاګه کوي، چې اخلاقي ستونزې لکه د ماشوم تښتونې او بیا د هلک په توګه د خرڅلاو ( هغه عمل چې د ماشوم جنسي غلامۍ لامل ګرځي)، قمار، فساد او پر نشه یي توکو روږدي کېدل په یاد وخت کې ډېر دود وو. په پایله کې نوموړی هغو وختونو ته اشاره کوي، چې د ماشومتوب پرمهال یوازې له خپلو ورونو سره ښوونځي ته تللای شو، خو خویندې یې د طالبانو رژیم پرمهال د بندیز له کبله ښوونځي ته نه شوې تللای. ښوونځي ته له تګ پرته نور ټول وخت عبدالکریم په کور پاتې شوی دی.

د طالبانو رژیم پرمهال د نوموړي په ماشومتوب دوره کې جنسیتي چلن بدلون وموند، مور او خورګانې یې پر کور پاتې شوې او د کور ټولې چارې یې پرغاړه واخېستې. د طالبانو رژیم له نسکورېدو وروسته د ده مور د ننګرهار ولایت په یوه ریاست کې دایمي دنده واخېسته. خورګانو یې هم پوهنتون ته تګ پیل کړ. نوموړی خپله کورنۍ په ننګرهار ولایت کې استثنایي ګڼي، ځکه د کورنۍ ښځینه غړو یې په یاد وخت کې لوړې زده کړې ترلاسه کړې دي. د کورنۍ ښځینه غړو یې مالي خپلواکي درلوده او د کورنۍ په پرېکړو کې یې هم ونډه لرله. نوموړی د هغه وخت په اړه وایي، چې کله یې مور پر رسمي کار بوخته وه، پلار یې د کور کارونه ترسره کول. لا تراوسه په ننګرهار کې د دوی د ژوند کولو ډول د دوی کورنۍ په خپله ټولنه کې له ډېر ستونزمن حالت سره مخ کړې ده.

---

۳۰ مرکه، د ۲۰۱۷ د جون په ۲۰ مه

کورنۍ یې د ښځینه غړو کار کولو او زده کړو څخه د لاس اخېستلو په برخه کې له ټولنیزو فشارونو سره مخ وه. عبدالکریم زیاتوي چې د پښتونولۍ له کبله دوی ته دا پېغور ورکول کېده، چې مور یې له کور د باندې کار کوي او د دوی د کورنۍ نارینه غړو ته د ټولنې له لوري د بې غیرته په سترګه کتل کېدل. د نوموړي مور له هغه وروسته له رسمي کار استعفاء ته مجبوره شوه، چې کورنۍ یې د وسله والو ډلو له لوري ګڼ شمېر د مرګ ګواښونه ترلاسه کړل. له دندې تر استعفاء وروسته یې په پوهنتون کې د استادۍ په توګه دنده پیل کړه.

> مور په خپله ټولنه کې له هرچا دا اورېدل، چې هغه ښځه چې له کور د باندې کار کوي بداخلاقه ده[...] زیاتره وخت به مې د دې خبرو له اورېدو وروسته هغه هېرولې او کوم عکس العمل مې نه ښوده[...] ځینې وختونه به مې له هغوی سره استدلال کاوه او دا به مې ورته ویل، چې زما مور له کور د باندې کار کوي او په پایله کې یې زه په خپله کورنۍ کې تر ټولو ډېرې لوړې زده کړې لرم. مور له خلکو سره خواخوږي او مهرباني لرو او کوم داسې ناوړه چلن له مور سره نه دی شوی[...] په ټولنه کې د نورو په پرتلې زموږ چلن ډېر غوره دی. زموږ د ژوندانه شرایط د اکثریت په پرتلې ښه دي او ټول مور ته درناوی لري. آن تر دې هغه خلک چې پر مور نیوکه کوي، دوی مور ته لاس نیسي، حتی که چېرې ښځې کومې ستونزې ولري، زموږ له مور د لاسنیوي او حلولو غوښتنه کوي، که چېرې سړي کومه ستونزه ولري، زموږ له پلار د مرستې او لاسنیوي غوښتنه کوي.[31]

عبدالکریم له هغو ټولنیزو فشارونو او په وړاندې یې د دوی له عکس العمل یادونه کوي، چې دی او کورنۍ یې ورسره مخ وه. نوموړی په دې پوهېږي، چې د دوی د کورنۍ په اړه له منفي ذهنیت سره سره، بیا هم دوی له خپلې ټولنې سره ډېر ښه چلند کوي او لاسنیوی یې کوي. عبدالکریم اوسمهال په خپله کورنۍ کې د جنسیتي عدالت په باب مثبت نظر لري، نوموړی د خپلو زامنو خیال ساتي او له خپلې مېرمنې او مور سره د کور په کارونو کې مرسته کوي. نوموړی د خپلې مېرمنې د پوهنتون لګښت ورکوي، هغه مهال چې مېرمن یې د ورځې په ترخ کې طبي زده کړو ته ځي، نوموړی د خپلو ماشومانو د پالنې لپاره خدمتګاره ګوماري.

> زما مور زما لپاره اتله ده. هغې زما په ژوند او سړیتوب کې ډېره اړینه ونډه لوبولې ده. زه دا ویلای شم، چې مور مې نه یوازې زما او زما د کورنۍ په ژوند کې اړینه ونډه اداء کړې، بلکې په ټولنه او زموږ د ټولنې په اصلاح کې یې هم فعاله ونډه اداء کړې دی[...] هغې زموږ په ښو اخلاقو کې کې ډېره ونډه لوبولې ده او ترڅنګ یې زما په زده کړو او دنده کې لوی لاس و[...] هغې مور ته دا راښودلي چې په ټولنه کې له خلکو سره څه ډول چلن وکړو او څه ډول د ټولنې او خلکو خدمت وکړو. مور ته یې غوره اخلاق رازده کړي او مور یې په خپل ژوند کې هڅولي یو او زموږ لاسنیوی یې کړی. دا یې راښودلي چې څه ډول له اسلامي او افغاني ارزښتونو دفاع وکړو او څه ډول د تبعیض او تعصب په وړاندې ودرېږو. مور پښتانه یو او مورنۍ ژبه مو هم پښتو ده، خو مور مې دا راښودلي چې څه ډول په دري خبرې وکړو او اوسمهال مور په کور کې په دري خبرې کوو، ځکه مور مور ته دا راښایي چې تبعیض او تعصب ونه کړو.[32]

عبدالکریم زیاتوي، چې د ده مور په کورنۍ او په ټوله کې په ټولنه کې د مثبت لیدلوري ترڅنګ د ده پر نني شخصیت ډېره اغېزه کړې ده. نوموړی خپل غوره ټولنیز – اقتصادي مقام د هغو زده کړو مدیون ګڼي، چې د کورنۍ او په تېره بیا د مور او پلار د هڅونې په ترخ کې یې ترلاسه کړي دي. نوموړي خپلې ځلورکلنې زده کړې له هېواد د باندې کړې دي. ده د خپلې تحصیلي دورې پرمهال له ښځینه ټولګیوالو سره هم اړیکې پاللې دي( لکه د دوی کورونو ته د ماښامانۍ خوړلو لپاره تګ)، خو نوموړی وایي چې افغانستان ته تر راګرځېدو وروسته یې د ټولنیزو فشارونو له کبله له ښځو سره تعامل او اړیکو بدلون وموند، ځکه دلته دا دود دی، چې باید له ښځو سره یو په یو ونه کتل شي.

عبدالکریم خپل ځان یو دودیز کس معرفي کوي، ځکه دی وایي، چې په خپله ټولنه کې له ټولو دودونو پیروي کوي. د نوموړي په اند یوازېنۍ توپیر دا دی، چې نوموړی ښځو ته له سړیو په کمه سترګه نه ګوري، چې د نوموړي له نظره دا له اسلامي او افغاني ارزښتونو سره سمون لري.

---

۳۱ هماغه سرچینه

۳۲ هماغه سرچینه

## ناصر

**۲۹** کلن ناصر په خټه تاجیک  او د نظامي روزنې په مرکز کې استاد دی. ناصر څلور کلن، چې له خپلې کورنۍ سره یو ځای په **۱۹۹۲** زېږدیز کال کې د کورنۍ جګړې د پیل پرمهال ایران ته کډه شو. ایران ته د نوموړې کورنۍ کډه کېدو د هغه په کورنۍ کې د جنسیت په نقش کې بدلون راوست، ځکه د ده مور او پلار باید د کورنۍ په اقتصاد  کې مرسته کړې وای. پلار یې د فلتر جوړولو په کارخونه کې پر کار بوخت و او مور یې توکمې ګنډلې او هره ورځ یې پاکټونه جوړول.

د خپلې کورنۍ څلورو ورونو له ډلې د مشر ورور  په توګه یې د کور زیاتره چارو پرمخ وړلو مسوولیت پرغاړه و، څو له خپلو کوچنیو ورونو سره مرسته وکړي، ځکه پلار یې تل ورځ له کور د باندې لېږې په یوه کارخونه کې پر کار بوخت و. اته کلنۍ عمر ته په رسېدو د دې جوګه شو، چې له خپل پلار سره په کارخونه کې مرستې ته راودانګي او د اړتیا وړ وسایلو په ورکړه او برابرولو کې ورسره همکار شي. په دې ډول دوی ته د هغو فلترونو معادل اجوره ورکول کېده، چې جوړول یې. پردې سربېره یې د تولید په خرڅلاو کې هم له خپل پلار سره مرسته کوله او له یو ځایي خیاط سره یې د همکار په توګه هم کار کاوه. له دې کبله نوموړی د دې جوګه نه و، چې ښوونځي ته لاړ شي. کله به چې ماښام مهال له خپل پلار سره یوځای کور ته راستون شو، نو مور یې په کور کې زده کړې ورکولې.

> ما د ماښام پرمهال له خپلې مور زده کړې کولې. لا تراوسه مې په یاد دي، چې کله زما پلار خپله لومړنۍ تنخوا ترلاسه کړه، کتاب پلورنځي ته لاړ او مورِ ته یې د ښوونځي دویم لاس درسي کتابونه راونیول. کتابونه یې زما مور ته ورکړل او ورته ویې ویل چې زه باید خپل زوی له ځان سره کار ته بوځم، خو له تا مې تمه دا ده، چې دوی ته د ښوونځي کارونه ورزده کړې. دا یادونه یې هم ورته وکړه، چې زه نه غواړم زامن مې په درسونو کې له ما سره د کار کولو له کبله شا ته پاتې شي او دا یې وویل چې دا وضعیت به تر ډېره دوام ونه کړي، کله چې مورِ یو ثابت وضعیت ته ورسېږو، بیا یې ښوونځي ته لیږلی شو. ما له خپل پلار سره یوازې د اونۍ پنځې ورځې په کار کې ملتیا کوله.[۳۳]

ناصر په خپل ژوند کې له هغې ښلګې یادونه کوي، چې پلار یې د یو کډوال کارکوونکي په توګه د خپل کار لومړنۍ اجوره ترلاسه کړه او پرېکړه یې وکړه، چې د ناصر زده کړو ته به ځانګړې کړي. دا کار ترهغه مهال نه و شوی، چې پلار یې په یوه ساختماني شرکت کې نجار شو او کولای یې شول، چې خپل زوی دولتي ښوونځي ته ولېږي. هغه مهال چې ناصر یې په ښوونځي کې شامل کړ، پلار یې نور نه غوښتل چې زوی یې په کار کې ملتیا وکړي. نوموړی د خپلې کورنۍ وضعیت په دې ډول بیانوي:

> کله چې ماښام مهال کور ته راستنېده، زمونږ کورنۍ دنده به یې کتله، چې ترسره کړې مو ده که نه؟ پلار به مې هغه مهال ډېر خوشاله و، چې ښوونکي به کله مورِ ته ښې نمرې یا هم په کورنۍ دنده کې ستورې راکوه. زمونږ په پالنه کې تر ډېره زمونږ مور رول اداء کړی، خو پلار مو تل دا هڅه کړې څو له مالي اړخه زمونږ لاسنیوی وکړي او زمونږ د اړتیا وړ توکي راته برابر کړي، خو د زده کړو او ښه چلن ترڅنګ زمونږ د ژوند په ټولو نورو اړخونو کې زما مور ډېر لوی رول اداء کړی دی.[۳۴]
>
> کله چې زما مور مورِ ته د درس نه لوستلو له کبله جزاء راکړه او محدودیتونه یې راباندې ولګول، زه مې د پلار څنګ ته لاړم او د مور له یادې کړنې مې ورته شکایت وکړ. پلار مې بیا ماته د مور له لوري پر ماشوم د محدودیتونو وضع کولو او په ټولنه کې د ښځې رول په اړه خبرې وکړې.[۳۵]
>
> ښه مې په یاد دي، چې پلار به مې هر وخت مورِ ته ویل: که چېرې یوه ښځه لوستې وي، کولای شي ټوله ټولنه لوستې کړي.[۳۶]

۳۳ مرکه، د ۲۰۱۷ کال د اپرېل په ۱۳مه

۳۴ هماغه سرچینه

۳۵ هماغه سرچینه

۳۶ هماغه سرچینه

ناصر په خپل ژوند کې د خپلې مور او خپل پلار هغه مثبت رول ته اشاره کوي، چې د ده په پالنه کې یې اداء کړی دی. نوموړی د خپلې مور ونډه ډېره هڅوونکې ګڼي، ځکه مور یې د ژوند په ډېرو ډګرونو کې ورسره مرسته کړې ده او پرده دغه راز د ده پر نورو وروڼو یې محدودیتونه لګولي دي. په ورته وخت کې یې پلار ده ته دا ورزده کړي، چې په ټولنه کې د ښځو ونډه څومره اړینه ده او دی یې تل دې ته هڅولی، چې له خپلې مور سره د کور په ټولو کارونو کې مرسته وکړي.

> زه شخصاً په دې باور یم، چې باید له کار نیولې تر پرېکړو پورې په ټولو چارو کې مساوات موجود وي. که چېرې مساوات وي او ګډ کار ترسره شي، ستونزې به خورا کمې وي.[۳۷]

ناصر یوه لور لري او غواړي هغه ډول یې رالویه کړي، څه ډول چې نوموړی خپلې مور رالوی کړی. نوموړی غواړي له اسلامي لارښوونو سره سم خپلې لور ته د ښځې او سړي ترمنځ د مساوات درس ورکړي او دا ورته وښايي، چې دي له سړي کمه نه ده.

> زه به خپلې لور ته پوهنتون ته د تګ اجازه ورکړم. زما لپاره دا توپیر نه لري، چې اولاد مې هلک دی که نجلۍ، څرنګه چې پلار مې له هېواد د باندې لاسنیوی کړی، چې زده کړې وکړم او فارغ شم، حتی که زه له زرګونو ستونزو سره هم مخ شم، زه به خپل اولادونه بهر ته د زده کړو په موخه ولېږم.[۳۸]

دا روښانه خبره ده، چې د ناصر د ماشومتوب پرمهال پالنې او د ده والدینو مثبت رول پردې اغېزه کړې، چې خپل اولادونه څه ډول رالوی کړي، په تېره بیا د زده کړو په برخه کې جنسیت ته له پام پرته دا خبره ډېره د پام وړ ده.

## نوراحمد

۲۸ کلن نوراحمد په خټه تاجیک او متقاعد دولتي مامور دی. نوموړی د پنجشېر په استانه کې رالوی شوی. پلار یې بزګر و او د اوړي پرمهال یې په کابل کې آشپزي کوله، او مور یې د کور مېرمن وه. نوراحمد خپل ماشومتوب په ۱۹۵۰ لسیزه کې په پنجشېر کې تېر کړی. نوموړی وایي، چې هغه مهال په پنجشېر کې د هلکانو لپاره یوازې یو ښوونځی موجود و، چې د دوی له استوګنځي سره یې اووه میله واټن درلود. یاد ښوونځي ته له نوموړې سیمې یوازې د ګوتو په شمېر شاګردان ورتلل. که څه هم د نوموړي والدینو رسمي زده کړې نه لرلې، خو پلار یې ښوونځي ته ولېږه.

> په استانه کې مېشت خلک د یوې کورنۍ په څېر وو. زما تېر وختونه ښه په یاد دي، چې د خلکو ترمنځ ډېره ملګرتیا او صداقت موجود و او د اوس په څېر نه وو[...] زموږ په کلي کې مېشت خلک د یوې کورنۍ په څېر و او موږ به نورو نجونو ته د خویندو په سترګه کتل. هلکانو او نجونو به یوځای خپلې رمې څرولې[...] د خلکو ترمنځ ژمنتیا او صداقت موجود و، د اوس وخت په څېر نه و، چې حتی کوچني هلکان هم له شهوت او شیطاني فکرونو ډک دي. د خلکو اقتصادي وضعیت یو تربله سره برابره و او د یوې کورنۍ په څېر یې ژوند کاوه. هغه وخت چې موږ ځوانان و، ښوونځي ته به ورتللو او د دې ترڅنګ زموږ یوازینۍ ساعتېري په سیند کې له خپلو همزولو سره لامبو کول و او له مور و پلار سره به مو په کارونو کې مرسته کوله. نجونو معمولاً له خپلو همزولو سره لوبې کولې او له خپلو والدینو سره یې د کور په کارونو کې مرسته کوله او رمې به یې څرولې.[۳۹]

نوراحمد له هغو وختونو یادونه کوي، چې په ټولنه کې تر جګړو وړاندې جنسیتي اړیکې ډېر مثبتې وې. د نوموړي د ماشومتوب پرمهال د ښځو او سړیو ترمنځ د کار وېش موجود و، سړیو به له کور د باندې کارونه لکه کرنه، د خسو راټولول او د ډېرو تویل ترسره کول او د ده د مور په ګډون به ښځو د کور کارونه لکه پخلی، پاکول او د کالیو وینځل کول. ښځو له خپلو مېړونو سره د ځمکو په رېبلو او لو کې هم مرسته کوله.

د داسو ښځو تر سترګو کېدل، چې له سیند به یې اوبه وړلې او خپله مالداري به یې مړوله هم یو معمول کار و. نوراحمد وایي، چې مور او پلار یې ډېر سنتي او محافظه کاره خلک و، خو کله چې دوی کابل ته کډه شول او د کابل پوهنتون د کرنې په پوهنځي کې شامل شو، د جنسیتي اړیکو او ونډې په تړاو د دوی ذهنیت هم بدلون وموند.

---

۳۷ هماغه سرچینه.

۳۸ هماغه سرچینه

۳۹ مرکه، د ۲۰۱۷ کال د مې په ۲۸ مه

زه ویلای شم، چې د کابل چاپېریال او ټولنې پر ما تر ټولو ډېره اغېزه لرله. زما د کار له امله، چېرته چې زه له خپل پلرنی ټاټوبي راغلم او په کابل کې مېشت شوم، زما لیدلوری هم پراخ شو، او دا چاپېریال او کاري تجربه وه، چې پرما یې اغېز وکړ. ما بېلا بېلو اروپايي او آسیايي هېوادونو ته سفر وکړ او هلته مې بېلا بېل فرهنګونه ولیدل. کله مې چې د کلیو پراختیا په وزارت کې د رئیس په توګه دنده اجراء کوله، موږ د جنسیت په اړه ګڼ شمېر ورکشاپونه او سیمینارونه ترلاسه کړل او ډېر څه مې ترې زده کړل. زه دا ویلای شم، چې د ماشومتوب پرمهال زه د جنسیت ډېر پلوی نه وم او د خپلو خویندو او ښځینه خپلوانو په مقابل کې ډېر سخت دریځه وم. نو کله به مې چې لیدل زما خویندې یا ښځینه خپلوانو حجاب نه دی کړی، زه به پرې قهر کېدم او د حجاب کولو به مې ورته ویل. له ښوونځي تر فراغت مهاله زه په همدې ذهنیت وم، خو کله مې چې پوهنتون لوستل پیل کړل ما له ډېرو نجونو سره ولیدل، چې په بېلا بېلو پوهنځیو کې یې درسونه لوستل، دې کار پرما اغېز وکړ او د جنسیتي نورمونو په تړاو یې زما لیدلوری بدل کړ.[۴۰]

نوراحمد په خپل کلي کې د استوګنې پرمهال د ماشومتوب دوره، چې دی په کې تر ډېره د جنسیتي مساوات پلوی نه و، په کابل کې له خپل اوسني ژوندانه سره چې پوهنتون یې په کې لوستی او له بېلا بېلو خلکو سره یې لیده کاته کړي، متفاوت ګڼي. کله چې نوموړی له کابل پوهنتون فارغ شو، په ۱۹۸۰ لسیزه کې یې په بغلان ولایت کې د ښوونکي دنده پیل کړه.

یوه ورځ هغه مهال چې ما په شپه غالي(لیلیه) کې شاګردانو ته ډوډۍ وېشله، والي له یو ساتونکي سره راغی او د ټولو په مخکې یې کنځلې راته وکړې[...] زه په دې پوهېدم، چې له تګ وروسته به زما د نیولو امر ورکړي[...] زه وتښتېدم او کابل ته راستون شوم[...] د بغلان له پرېښودو وروسته د یاد ولایت والي زما یو څو همکاران نیولي و او زما په لټه کې هم و. له دې نیولو وروسته شاګردانو د والي په ضد لاریون وکړ. زه بېرته نه لاړم او په کابل کې د یو څو اونیو لپاره پاټې شوم، خو وروسته بیا یوازې د وخت پوهنې وزیر ښاغلي اکرم خان په لاسوهنه او منځګړیتوب زه بېرته درسونو ته ستون شوم.[۴۱]

نوراحمد په خپل ژوند کې له هغو حساسو شرایطو یادونه کوي، چې په هېواد کې د جګړې او سیاسي بدلونونو له کبله یې ژوند اغېزمن شوی. د ده په وینا، چې په یاد وخت کې یې له خپلو شاګردانو سره یو ځای په لاریونونو کې ګډون کړی و. دا لاریونونه د دې لامل شول، چې نوموړی په بغلان کې د وخت له والي سره په ستونزه کې راګیر شي، ځکه نوراحمد یې د کمونیستي رژیم ضد کړی بلله. نور احمد یاد وختونه له خپل اوسني ژوند سره پرتله کوي، چې درې لوڼې او څلور زامن لري او د نوموړي د ژوندانه بدلونونو داستان داسې بیانوي:

زما اولادونه په یوه ماډرنه او لوستي کورنۍ کې ژوند کوي. هغه چاپېریال چې اوسمهال موږ په کې ژوند کوو له پخوا سره ډېر متفاوت دی. موږ اوسمهال د ټکنالوجۍ په ډګر کې یو او زیات بدلونونه راغلي دي. په یاد وخت کې د نجونو لپاره ښوونځي نه وو، نو له دې کبله دوی باید یوازې د کور کارونه ترسره کړي وای. اوسمهال دې شرایطو بدلون کړی او زما لوڼې ښوونځیو ته ځي. مشره لور مې اوسمهال په جرمني کې اوسیږي او واده یې کړی. بلې لور مې هم واده کړی، هغه له کابل پوهنتون فارغه شوې او د انګلیسي ژبې ادبیات یې لوستی، کشرۍ لور مې چې اوس کوژدن ده، د کابل پوهنتون په اقتصاد پوهنځي کې د وروستي کال محصله ده. که څه هم پخوا ښځې نالوستي وې او یوازې د کور چارې یې پرمخ وړې، خو زما مېرمن اوسمهال د یوه ښوونځي مدیره ده او له سهاره تر ماښامه د مدیریت چارې پرمخ وړي.[۴۲]

نوراحمد خپل ژوند ته په اشارې غواړي دا په ډاګه کړي، چې له تېر ژوند او ماشومتوب سره څومره متفاوت دی، په تېره بیا دا چې اولادونه یې لوستي او له هېواد د باندې ژوند کوي. نوراحمد په افغانستان کې د دودیزو جنسیتي نورمونو تر پوښتنې راوستو پرځای په دې باور دی، چې یوازې د ده ذهنیت د ژوند په اوږدو کې بدلون موندلای. نوموړی په دې باور دی، چې یو دودیز شخص دی او له خپلې مېرمنې سره د ملاتړ په برخه کې یې هېڅ راز بهرنۍ فشار نه دی احساس کړی.

۴۰ هماغه سرچینه

۴۱ هماغه سرچینه

۴۲ هماغه سرچینه

که چېرې تاسو زما ژوند او دې چارو ته زموږ په کلي کې د مېشتو خلکو له سترګو وګورئ، نو زه یو غیر دودیز شخص یم، ځکه زه په کور پاتې کېږم او مېرمن مې له کور د باندې کار کوي، مګر زه په دې باور یم، چې دا کار یو شخص په غیر دودیز کس نه بدلوي. ځرنګه چې مخکې مې یادونه وکړه، چاپېریال د یو شخص پر لیدلوري او افکارو ډېره لویه اغېزه لري. که څه هم ښایي زما په کلي کې مېشت خلک ماته د غیر دودیز کس فکر کوي، خو په کابل کې دا بیا ډېره معمول خبره ده او زه یو عادي کس یم. زه هېڅکله له کومه اړخه د خپلې مېرمنې د ملاتړ په برخه کې د چا له فشار سره نه یم مخ شوی. که چېرې زه د خپل شخصي لیدلوري په اړه هم خبرې کوم، په دې معنا ده، چې زموږ ژوند ډېر اسانه شوی دی. فشار او مسوولیت یوازې زما په اوږو نه دی پروت، بلکې موږ په کور کې ټولې چارې په ګډه پرمخ وړو، ټول مسوولیتونه په ګډه اداء کوو او دې کار زموږ ژوند اسانه کړی دی.[43]

نوراحمد د ټولنیزو نورمونو په راسپړلو دې ته اشاره کوي، چې له جګړې وړاندې یې په پنجشېر ولایت کې په خپل کلي کې د ماشومتوب دوره په پلازمېنه کابل کې له ښاري ژوند سره څومره تفاوت لري. د نوموړي په اند جنسیتي مساوات په ژوند کې ورته مهم دی او له دې اړخه پرې هېڅ بهرنی فشار نشته.

## محمد خان

**۵۷** کلن محمد خان په خټه پښتون او ښوونکی دغه راز ټولنیز فعال هم دی. نوموړی له خپلو **۱۴** وروڼو او یوې خور سره په پلازمېنه کابل کې رالوی شوی، ځکه پلار یې د دوو ښځو خاوند و. پلار یې په افغان پوځ کې دنده لرله او له خپلو دواړو مېرمنو سره یې د کور په ورځنیو چارو ( پاکولو او پخلي) کې مرسته کوله. نوموړی زیاتوي، چې د ماشومتوب په دوره کې یې مثبتې جنسیتي اړیکې یا جنسیتي مساوات تجربه کړې. دی وایي، چې کله به دوی په ښوونځي کې وو، مور به یې ډوډۍ ورته تیاره کړې وه. د کور زیاتره چارې د هلکانو له لوري او کله به یې چې پلار دندې ته نه تللو، د پلار له لوري پرمخ وړل کېدې. خور یې ډېره کشره وه او پلار یې دې ته هڅوله چې زده کړې وکړي او وروسته نوموړې په خپل ژوند کې یوه ډېره لوستې نجلۍ شوه. نوموړی د ۱۹۶۰ او ۱۹۷۰ لسیزې پرمهال د ماشومتوب هغو یادونو ته اشاره کوي، چې ډېر کم جنسیتي تبعیض په کې موجود و.

د نجونو او هلکانو ترمنځ هېڅ راز توپیر نه و. لا تراوسه مې په یاد دي، چې زموږ د ګاونډیانو څلور یا پنځه نجونې به ښوونځي ته پر بایسکل تللې. په یاد وخت کې دې کار ته د کومې ستونزې په توګه نه کتل کېدل. له هغه وخت راوروسته زه دې پایلې ته رسېدلی یم، چې موږ باید انسانان د جنسیت له مخې ونه وېشو.[44]

د نجونو او هلکانو ترمنځ دوستي وه او ترمنځ یې هېڅ راز بدو افکارو شتون نه درلود. موږ ښځینه ملګرې لرلې، په ګډه مو زده کړې کړې او په ګډه مو غرمنۍ خوړله. موږ ټولګیوال و او په ذهنونو کې مو هېڅ ډول بد فکرونه نه وو. کله به چې موږ په ټولګي کې وو، داسې به مو انګېرله چې موږ د یوې کورنۍ غړي یو. دوی به موږ خپلو کورونو ته بللو. د پوهنتون دورې پرمهال به چې کوم هلک او نجلۍ یو بل خوښېدل، له خپلو پلرونو سره به یې خبره مطرح کوله او وادونه به یې کول. مګر اوسمهال له هغه وخت سره په بشپړ ډول توپیر لري. یو څوک د خپلو ښځینه ملګرو کور ته نه شي تللای، یا دا چې یوه ښځینه نه شي کولای د خپل نارینه ملګري کور ته لاړه شي. دا د ۳۰ یا ۴۰ کلنې جګړې پایله ده. اوسمهال زموږ په ټولنه کې ډېری کسان خپل ځان د ښځو حقوقو مدافعین ګڼي. مګر کله چې تاسو د دوی کور ته لاړ شئ، د ښځو او سړیو لپاره بېلې بېلې خونې لري. د ښځو حقوقو په اړه یوازې په خوله خبرې کول ډېر اسانه دي، مګر ثابتول او پلي کول یې ډېر سخت دي. زما مېرمن ډاکتره ده. هغې په خپل روغتون کې همکار ډاکټر درلود. یوه ورځ ما او زما مېرمنې ورسره خبرې کولې او سمدلاسه یې د نورو خلکو په ملامتولو پیل وکړ، چې خپلو ښځو ته حقوق نه ورکوي. زما مېرمنې ورته وویل، چې ته باید د ښځو حقوقو په اړه خبرې ونه کړې، ځکه مېرمن دې چې کله له کور د باندې وځي، باید برقه په سر کړي، نو ته ولې د ښځو حقوقو په اړه خبرې کوې. مېرمنې مې بیا ماته اشاره وکړه او ویې ویل: که چېرې دی د ښځو حقوقو په اړه وواېي، سمه ده، ځکه ثابته کړې یې ده.[45]

۴۳ هماغه سرچینه

۴۴ مرکه، د ۲۰۱۷ کال د اکتوبر په ۱۷

۴۵ هماغه سرچینه

نوراحمد ته ورته محمدخان له هغو وختونو يادونه کوي، چېرته چې له جګړې وړاندې د ده د ماشومتوب پرمهال د ښځو او سړيو ترمنځ مثبت جنسيتي چلن په ټولنه کې حاکم و. محمدخان اوسمهال پنځه اولادونه لري او وايي، چې په زده کړو کې د دوی برياليتوب ترشا د دوی د مور لاس دی. نوموړی دې ته اشاره کوي مېرمن يې څومره لايقه وه او په علمي ډګر کې يې د لياقت له کبله جايزه ترلاسه کړې ده( نوموړي خپله مېرمن له واده وړاندې پېژنده ځکه د خپلوانو له ډلې يې وه او دوی په ګډه ښوونځي ته تللي). مېرمن يې اوسمهال په پېښور کې اوسېږي او ډاکټره ده، په داسې حال کې چې محمدخان له خپلو دوو اولادونو (يو زوی او يوې لور) سره په پلازمېنه کابل کې اوسېږي. نوموړی د خپل کور ټولې چارې په خپله پرمخ وړي او اولادونه يې هره ورځ کار ته ځي. محمدخان په دې باور دی، چې هغه څوک چې د کور په کارونو کې مرسته نه کوي، په حقيقت کې ښځونکی دی، ځکه دوی له ټولنيزو فشارونو وېره لري.

> مېرمن مې ماته خواړه تياروي، که چېرې زه په خواړو تيارولو کې ورسره مرسته وکړم، نو په دې کې څه خبره ده؟ مېرمن مې زما د اولادونو خيال ساتي. که چېرې زه د خپلو اولادونو خيال وساتم، نو په دې کې څه خبره ده؟ په ورته ډول که چېرې زما مېرمن غواړي کور مې پاک وکړي او پرځای يې زه کور پاک کړم، نو په دې کې څه خبره ده؟ [...] ما هرڅه له خپل پلار او هغې ټولنې زده کړي، چې زه په کې رالوی شوی يم. کله چې مور او پلار يو څوک په دې ډول رالوی کړي، نو هېڅ راز ټولنيزو فشارونو ته غاړه نه ږدي او پروا يې نه ساتي. زه د خلکو لپاره ژوند نه کوم، زه خپل شخصي ژوند لرم، چې ډېر په کې خوشاله يم. ولې زه خپل ژوند د نورو لپاره برباد کړم؟ زه داسې کس پېژنم، چې ډېر شتمن و او له يوې نجلۍ سره يې واده وکړ، خو له واده وروسته هغه نجلۍ له ډېرو محدوديتونو سره مخ شوه لکه د برقې اغوستل، او اجازه يې نه لرله، چې د مېړه له اجازې پرته له کور د باندې ووځي. هغه نجلۍ يو مرموز ژوند درلود. موږ دې ته ورته ډېرې بېلګې لرو. داسې ډول خلک خپلو مېرمنو ته د انسان په سترګه نه ګوري. دوی خپلو مېرمنو ته د شخصي ملکيت په سترګه ګوري[...] په تېرو وختونو يا د روسيې له يرغل وړاندې، موږ د خپلو ملګرو کورونو ته تللو، که چېرې به زموږ ملګرې په کور کې نه و، د هغه مور يا خور به موږ ته هرکلی کاوه. په هغه وخت کې دا ډول محدوديتونه نه وو، چې يوه ښځه ونه شي کولای خپل کور ته د مېلمانو د راتګ هرکلی وکړي[...] يوه ښځه په سودا اخېستلو پسې وتلې شوه، د خپل مېړه مېلمانو ته يې هرکلی ويلی شو، په دفتر کې يې کار کولای شو او په ټولنه کې يې ښه شهرت درلودلای شو. کله چې موږ اوسنيو حالاتو ته ګورو دا د تېرو **۳۵** کلونو جګړې پايله ده، چې په ترڅ کې يې خلکو د خپلو مېرمنو حقوق له پامه غورځولي دي.[۴۲]

محمدخان له خپلې مېرمنې سره د ده مثبت جنسيتي چلن له جګړې وړاندې له خپل ماشومتوب سره تړلی ګڼي. نوموړی د ټولنې له اړخه پر يو سړي باندې پر شته ټولنيزو فشارونو هم پوهېږي، چې دی ورسره هم نظره نه دی او حتی مخالف يې دی او غندي يې. د دې ترڅنګ نوموړی هغو لارو چارو ته اشاره کوي، د کومو له مخې چې نوموړی اجازه نه ورکوي څو ټولنيز فشارونه پرده اغېز وکړي.



۴۲ هماغه سرچينه

# بحث

دا مقاله د پنځو ښلابښلو نارینه وو ژوند روښانه کوي چې په افغانستان کې د جنسیتي برابرۍ په تجربو کې ونډه لري. دغو پنځو نارینه وو د لویېدو، شخړې، کډوالۍ، مذهب، ټولنیز-اقتصادي وضعیت، جنډري نورمونو او تمو او د دوی نارینتوب سره د تړلو او نښتو فکټورونو په اړه بحث کړی دی. دا کیسونه ددې ښودنه هم کوي چې جنسیت د نارینتوب جوړېدونکی، بدلېدونکی او ورسره تړلی مفهوم دی، ځکه د سړیو او ښځو خپل منځي فعالیت یو بل اغېزمنوي. دا چې دوی (متقابل) سلوک او چلند زده‌کړی دی، نه یوازې جنسیتي رولونه او مسؤلیتونه ننګول کېږي، بلکې کېدای شي چې د جنسیتي برابرۍ اړوند تجربو کې تشریح او ځای پرځای کړل شي.

د «ژوند داستان» تګلارې په استعمالولو سره، دا مقاله د سړیو په ژوند کې د جنسیتي نقشونو او مسؤلیتونو سره په تړلو لیدلورو او تجربو کې د ونډه‌لرونکو ځانګړو برخو په اړه روښانه معلومات راکوي. پردې سربېره، دا روښانه کوي چې څرنګه نارینتوب د وخت په تېرېدو سره تغییر کړی دی، په ځانګړې ډول د ټولنیز-اقتصادي اوسیاسي تحولاتو سره د مخ کېدو او دغه راز د نورو هویتي بڼو په اړه لکه قومیت، سیمه، ډله او ټولنیز-اقتصادي وضعیت په حالت کې. هر سړی له نورو سره توپیر لري او خپل ځان ته د خپلو شرایطو او تاریخي شالید له مخې ګوري، چې له موږ سره مرسته کوي څو پوه شو دوی په خپل ژوند کې کوم څیز مهم ګڼلی او د جنسیت او جنسیتي مسایلو په تړاو څه ډول لید لري.

د وخت او ځای له مخې په ټولنو کې رامنځته شوې تمې (توقعات) متفاوت دي. د کابل ښاري سیمو په پرتله د ننګرهار، پنجشېر یا غزني کلیوالي سیمو ترمنځ توپیر لیدل کېږي. دغه راز دا تمې له هېواده بهر کډوالۍ په اړه هم متفاوتې دي، هغه که جبري کډوالي وي (ایران او پاکستان ته)، یا که د کار او پوهنیزو فرصتونو لپاره وي (هند ته). مختلفو قومي-مذهبي ډلو په ښلابښلو سیمو کې له سړیو او ښځو جلا جلا تمې درلودې. د بېلګې په توګه، د افغانستان ښلابښلې سیمې د جګړې او تاوتریخوالي لهامله په ښلابښلو لارو اغېزمنې شوي دي. په ننګرهار کې، عبدالکریم او کورنۍ یې په مرګ ګواښل شوي وو، ځکه مور یې په یوه ریاست کې کار کاوه. دا توقع د افغانستان په بله سیمه کې، چې وسلوال او افغان او امریکایي پوځیان په کې نشته؛ په بل ډول ده.

په یوه کلیوالي سیمه کې د روح الله رالویېدل ددې بېلګه ده چې په ۱۹۸۰یمو کلونو کې د سړیو او ښځو مسوولیتونه څه و. هغه کیسه کوي چې څرنګه د دوی وضعیت بدل شو، کله چې یې پلار مجاهد شو او په افغان-شوروي جګړه کې وجنګېد او کله چې ایران ته مهاجر شول او څرنګه بېرته راوګرځېدل. په ایران کې د مهاجر په توګه د دوی وضعیت او په قومي لحاظ هزاره، په جګړه کې دده د پلار فعال ګډون او د دوی د کورنۍ ټولنیز-اقتصادي وضعیت دا ټول هغه فکټورونه دي چې د جنسیت نقش او مسوولیتونو په اړه دده درک سره اړه لري او اغېزمنوي یې. د عبدالکریم بېلګه راښیي چې له یوه ښاري چاپېریال (د کابل کارته نو) څخه یوه کلیوالي چاپېریال (ننګرهار کې د دوی کلي) ته تلل په جنسیتي لیدلورو کې له تغییر سره مل وو. دی او دده کورنۍ له داسې ټولنیزو فشارونو سره مخ وو چې نه یوازې کلیوالي سیمو ته کډوالۍ، بلکې جګړې هم په کې ونډه لرله. دوی له نویو تشویشونو سره مخ و ځکه مور یې په دې وګواښل شوه چې باید په ریاست کې له دندې استعفاء وکړي او پلار یې باید په یوه جګړه‌ځپلې ټولنه کې د قومي ستونزو لهامله د خپلو بچیانو له حده ډېره ساتنه وکړي. دا په هېواد کې په نوو سیاسي تحولاتو کې د هغه د پلار مقام سربېره و او لامل یې له کمونیستي رژیم سره کار کول و. د وسلوالو ډلو لهلوري د مرګ ګواښونه د پوځي او جګړه‌ییزو شرایطو زېږنده دي چېرته چې د نارینتوب او ښځینه‌توب نوې بڼې رامنځته شوي دي. د ټولنې د غړې په توګه د هغې ارزښتمن کار ته له کتو پرته، له کوره بهر د ښځې کار کول د منلو وړ نه ګڼل کېده.

د روح‌الله په څېر، د ناصر کورنۍ هم د ایران په لور کډوالۍ ته مجبوره شوې وه، چې دې کار یې په کورنۍ کې د جنسیت رول او مسوولیتونه بدل کړي. په هر حال، د روح‌الله په شان، هغه د قومي تعبیض سره مخ شوی نه و. ددې پرځای، نوموړی حالت دده خپل ټولنیز-اقتصادي وضعیت له کبله و چې د کورنۍ په ژوند کې د ونډه‌لرونکي په توګه رول لوباوه ځکه ده په ایران کې د ډېر لږ معاش په بدل کې له خپل پلار سره یو ځای کار کاوه. کله چې دی او کورنۍ یې افغانستان ته راکډه شول، نوموړي د بن کنفرانس څخه وروسته په افغانستان کې رابرسېره شوي بېلابېل فرصتونه ترلاسه کړل، د بېلګې په توګه په حربي پوهنتون کې استاد دي.

دواړه نور احمد او محمد خان له افغان-شوروي جګړې وړاندې په افغانستان کې اوسېدل او دا هغه څه دي چې د دوی پخواني ژوند په اړه اړین معلومات راکوي. نور احمد په خورا ځورېدونکي ډول د خپل کلي وخت رایادوي، او د هغه په وینا چې خلکو په دودیز ډول ژوند کاوه او د سړیو او ښځو ترمنځ جنسیتي اړیکې ډېرې ښې او غوره وې. پردې سربېره، نور احمد ویل چې نوموړی له خپلو خویندو او ښځینه خپلوانو سره ځیږ (سخت) و ترڅو چې کابل ته وکوچېد او ورو ورو یې د جنسیتي اړیکو په اړه لیدلوری بدل شو. دا بیا د محمد خان سره ډېر توپیری و، څوک چې په کابل کې رالوی شو او ډېر وروڼه یې درلودل او د کورنۍ د غړو ترمنځ یې پراخې جنسیتي اړیکې موجودې وې. هغه د جنسیتي مسایلو او ښځو په اړه منفي لیدلوري، په هېواد کې د لسیزو جګړې پورې تړل، دده په وینا له جګړې وړاندې جنسیتي مسایل دا ډول نه وو.



# پایله

هغه څه چې ددغو پنځو مرکه‌کېدونکو له نظریاتو څخه له ورایه ښکاري، دا دي چې د دوی په نظر یو «دودیز سړی» څه معنا او ایډیال نارینتوب څه دی. د ګډونوالو لپاره، په بېلابېلو ځایونو او وختونو کې د دوی رالوېدل د جنډري مسایلو له بنې سره مرسته کړې ده. د ځینو لپاره، د جنسیتي برابرۍ پر وړاندې د دوی موقعیت خورا سخت و ترڅو چې بلوغت او ځوانۍ ته ورسېږي، په داسې حال کې چې د ځینو لپاره ماشومتوب او کورنۍ د جنسیتي برابرۍ په غښتلتیا کې مرستندوی تمام شوي دي. د ماشومتوب او کورني وضعیت له مخې بېلابېلو مرکه‌کېدونکو ویل، که څه هم چې سړي په بېلابېلو نقاطو کې د جنسیتي مسایلو په تړاو متفاوت وي، خو د بېلابېلو فکتورونو له‌امله یې لیدلوري تغییر مومي. په ورته ډول، په کاري چاپېریال کې د جنسیتي مسایلو په اړه د ګډونوالو لیدلوري ددې ښودنه کوي چې ښځو له‌پاره کاري چاپیریال پراخېدونکی دی، خو سلوکي او چلندیز تغییرات ډېر کار ته اړتیا لري ترڅو د هغو کسانو له‌لوري، چې د عزت اړوند پوښتنو ته تیارسئ ولاړ وي؛ ومنل شي. تاوتریخوالی په ځانګړي ډول هغو ښځو له‌پاره، چې یو مسلک تعقیبوي؛ ډېر لرې نه دی، کېدای شي د دوی شخصیت د ټولنې یا د جنسیتي برابرۍ سره د متضادو عقایدو لرونکو کسانو له‌لوري تر پوښتنې لاندې راشي. له څلورو لسیزو ډېرې جګړې سړیو ته داسې شرایط برابر کړي چې په تاوتریخجن ډول هغه ښځې په نښه کړي کومې چې مسلکي کارونه کوي یا د خپل ځان لپاره اواز پورته کوي.

سړي، ښځې او ماشومان د شاوخوا څلورو لسیزو راهیسې له جګړې څخه په متفاوت ډول اغېزمن شوي دي. د شخړو اوږدمهاله طبعیت له هغه تریخ حقیقت څخه تېښته، چې تاوتریخوالی یې زېږولی او عادي کړی؛ پېچلې کړې ده. مرکه‌کېدونکو د طالبانو د واکمنۍ پر مهال د خپلو نږدې کسانو له‌لاسه ورکولو د وېرې یا یې د خویندو او میندو له زده‌کړو بې‌برخې کېدلو په ګډون، په خپل ژوند کې د تاوتریخوالي له اغېزو سره ژوند کړی، تجربه کړی او احساس کړی یې دی. په هر حال، ددغو شرایطو سره سره دوی لپاره جنسیتي برابري ځرګند ځیز دی او دا یوه غوره نښه ده چې په دغو ساحو کې ژوند کېدای شي یا کېږي که څه هم تاوتریخوالی او ناامني روانه ده.

د دودیز نارینتوب په تړاو له نورو سړیو سره د دوی توپیرونو ته په کتو، په جنسیتي برابرۍ باندې د باور لرونکو سړیو بل بېلوونکی فکتور، د دوی نسبي خپل‌ځاني پوهه ده. دوی ویل چې نه یوازې نور سړي په خپلو چلندونو کې محافظه‌کار دي، بلکې د جنسیتي برابرۍ د پرمختګونو مخه هم ډب کوي، هغه که د دوی د خپلو کورنیو یا ههم د نورو اړوند وي. مرکه‌کېدونکو لپاره، له خپلو ښځو او لورګانو سره مرسته او د جنسیتي برابرۍ ملاتړکول د نارینتوب مهمه برخه ده. دوی دودیز یا حاکم نارینتوب ننګولی چې یوازې د ښځو بدن او جنسیت تر کنټرول لاندې راوستلو هڅه کوي. دوی همدا راز تاوتریخوالی، توهین او بې‌پروا مور او پلار غندلي دي. دوی ددې وضاحت او تعریف وړاندې کړی چې د خوښې وړ (ایډیال) نارینتوب باید څه ډول وي. ددغو پنځو بېلابېلو کسانو له انده، دا ډول د خوښې وړ نارینتوب د افغاني کلتور او مذهبي عقایدو سره سمون لري.

لکه څرنګه چې دوی ټولو د حاکم نارینتوب داسې بڼې ته اشاره درلوده، چې لا هم سړي په خپله خبره ټینګ ولاړ وي ترڅو د ټولنیز فشار پر وړاندې یوه لاره برابره کړي، هغه که د خپلې کورنۍ له اړخه وي یا هم د ټولنې له اړخه وي. نو په همدې خاطر دا ډېر اړین ګڼل کېږي ترڅو د نارینتوب غوره بڼو د پیاوړي‌کولو اهمیت نه یوازې په انفرادي کچه، بلکې په کورنۍ او ټولنیزه کچه هم په ګوته کړي. افغان سړیو او ښځو په خپلو کورونو کې څرګندې کورنۍ دندې غوره کړې دي او دا د لویو ټولنیزو هویتونو په تشکیلولو کې مرسته کوي.

مرکه‌کېدونکو ته ددې لپاره چې د سړي په توګه ورته څه شی اهمیت لري، هغه د دوی رالوېبدو پرمهال د بېلابېلو ټولنیزو اړیکو څخه سرچینه اخلي. روح‌الله لپاره، د هغه د مور او خور مثبت اغېز او دیني زده‌کړې دي. عبدالکریم لپاره د هغه مور. ناصر له‌پاره، د هغه مور او پلار دواړه اهمیت لري. نور احمد له‌پاره د تجربو اوج و چې په کې له کلیوالي پنجشېر څخه کابل ته کډوالي هم په کې شامله ده. محمد خان له‌پاره، د هغه ښځه. دا ددې څرګندونه کوي چې د دغو سړيو ژوند نه یوازې د جنسیتي برابرۍ د لید مشخصې برخې نورو سره شریکوي، بلکې د نارینتوب نوې لارې هم جوړوي، په ځانګړې توګه کم‌پایښته حالت سره د مخ‌کېدو پرمهال داسې لارې مشخصوي چې بېلابېلو نارینه‌وو له‌پاره د وخت او ځای په تغییر سره نارینتوب تخلیقیږي، تشریح کېږي او تغییریږي.

یوازې په جنډري ابتکاراتو کې د سړيو او ښځو دواړو په ښکېلولو سره مورېد اوږدمهاله متداومو او مثبتو جنستيي اړیکو رامنځته کولو په لور کار کولی شو. ددې سربېره، د یادولو وړ ده چې له جنسیتي پلوه برابرې افغاني ټولنې د جوړولو او تداوم په لور هره هڅه باید دې ته په پام ترسره شي چې افغان نارینه او ښځې د اوږدمهاله جګړو، شخړو او ناامنیو په حالت کې ژوند کوي چې د دوی د ژوند ټول اړخونه اغېزمنوي. په افغانستان کې د جنسیتي خوځښت په اړه مثبت بدلونونه دې اړتیا لري چې باید رغنیز (ساختاري) او دایمي وي. دا به په دې معنا وي چې تغییرات په ورته وخت او څو ګونو (سیاسي، اقتصادي، ټولنیز، مذهبي او نورو) برخو کې رامنځته شي؛ چې د پراخې کچې نامساواتو قطع‌کولو ته اړتیا لري. دا تغییرات باید په ټولنیز او سیاسي ډول د ځایي اړتیاوو او ټولنیزو او کلتوري شرایطو سره سمون ولري او باید ټول ونډه‌وال په کې ونډه ولري. تغییر باید د سړيو اړتیا او زیانمنېدل او دغه راز پر ښځو، نجونو او نورو جنسیتي هویتونو باندې د سړيو امتیازات روښانه کړي او مثبت نارینتوب ته، چې د جنسیتي برابرۍ ملاتړ کوي؛ وده ورکړي. په همدې موخه لاندې وړاندیزونه کېږي.



# د نورې څېړنې لپاره وړاندیزونه

په لاندې ډول په افغانستان کې نورو څېړنو لپاره وړاندیز شوې ساحې د نارینه توب اړوند څېړنو سره اړخ لګوي. د سړو او نارینه توب په اړه نورې څېړنې ددې شونتیا رامینځ ته کوي چې داسې لارې ومومي ترڅو په کې سړي د جګړې، ناامنۍ او اقتصادي ناڅرګندتیا په شرایطو کې د سیاسي، اقتصادي، ټولنیز، مذهبي او ټولنیز لیډلورې بدلون ته ځواب ووايي. دا چاره موږ ته اجازه راکوي چې په کورنیو چارو، پالنیزو او روزنیزو چارو او څرګندې مهربانۍ کې د سړیو د ښکېلتیا ببلابېلې لارې وموموو او سړي په کورنیو او ټولنو کې مینه دود کړي. دا په ځانګړي ډول ډېر اړین دي ځکه د افغان او مسلمان نارینه په اړه حاکمه نظریه لا هم دا ده چې دوی په یو اړخیز ډول تاوتریخجن او ظالم انځور کړي. ددې سربېره نورې څېړنې د پوهنیزو پروګرامونو د وړاندې کولو اغېزمنو لارو موندلو فرصت برابروي ترڅو عملاً د ماشوم پالنې په اړه د سړیو چلند او تجربو په ګډون د جنډري مسایلو په اړه بحثونه پیل شي. لکه څرنګه چې پورته ذکر شول، ځینو سړیو په څرګند ډول دا مسؤلیت منلی، دا به ډېره ارزښتمنه وي چې د دوی شخصي تجربو څخه د جنسیتي برابرۍ د تجربو د پیاوړيکولو اړوند پروګرامونو لارې چارې وموندل شي. ممکن دا بېلګې د ښوونځیو او پوهنتونونو په رسمي نصابونو کې ځای پر ځای کړل شي، د ټولنیزو بحثونو سره توافق ورکړل شي، د رسنیو لهلارې لا ډېر استعمال لپاره پراختیا ورکړل شي؛ او د نورو ساحو ترڅنګ د حکومتي، خصوصي سکټور او مدني ټولنیزو برخو په کاري سیمو کې و اخښل شي.

۱. د ماشوم په پالنه کې مثبته مورولي او پلارولي په دې باندې اوږدمهاله اغېزه ښېندي چې هلک او نجلۍ ټولنیز شي. باید له ماشوم سره د پلار مثبت تعامل په موخه پراخ ملاتړ موجود وي او په دې برخه کې باید د ښوونځیو او مسلکي کسانو له لوري مشترک پېټي ته اوږه ورکړل شي. مدني ټولنه، رسنۍ او مذهبي ډلې هم کولای شي «نه یوازې ماشومان او ښځې، بلکې سړي هم له پلارولۍ څخه ګټه اخیستلی شي» پر مفهوم د ټینګار له لارې مسؤلیتمنونکې پلارولۍ ته وده ورکړي.

۲. په ښوونځیو او پوهنتونونو کې د جنسیتي مساوات په اړه د پوهنیزو پروګرامونو جوړول، هلکانو او سړیو لپاره د یادو موضوعاتو مناسبوالی روښانولای شي. دا پروګرامونه باید خوندي چاپېریال جوړ کړي چې خواخوږي رامینځ ته کړي ترڅو د جنسیتي موضوعاتو، ګرانښت او صمیمیت، وسلوالو شخړو او تاوتریخوالي په اړه خبرې وشي. دوی باید د جنسیتونو ترمنځ مساوات غښتلی کړي، بېتاوتریخوالي او له درناوي ډکو اړیکو ته وده ورکړي ترڅنګ یې هغه ستونزې روښانه کړي چې هلکان او سړي په افغانستان کې د اوسني جنسیتي وضعیت پرمهال، په تېره بیا د نفقه برابرونکي، ولي او پرېکړهکوونکي په توګه ورسره مخ شوي وي. که څه هم دا کار ډېر پېچلی دی، ولې ځیني سړي په دغو شرایطو باندې بریالي شوي دي، نو باید دا پېچلتیاوې وازمایل، تحلیل او تر بحث لاندې ونیول شي.

۳. رسنۍ د نارینه توب او ښځینه توب په اړه د ذهنیت په رامنځ ته کولو کې بنسټیز رول لري. یو هر اړخیز او له کلتوري لحاظه برابر مخابراتي پلان باید په ټولنه کې د سړیو په ورځني ژوند کې د حاکم نارینتوب مفاهیم روښانه کړي. په دې ډول سړي او ښځې دواړه کولای شي چې جنسیتي سلسلې بیا ځلي وارزوی او انځور یې کړي او د جنسیتونو ترمنځ پر مساوات پوه شي چې دواړو لورو ته ګټور دي. رسنۍ په کورني چاپېریال کې د سړیو څرګنده مثبته ونډه او د دواړو جنسیتونو متوازن کاري ژوند دودولی شي ترڅنګ یې هغه سړي چې هلکانو ته د مثبت رول د بېلګو په جوړولو کې مرسته کوي باید وپېژني، کار ورسره وکړي او غښتلي یې کړي.

۴. له سړیو سره د اتحاد لهلارې د ځایي کچې ښځینه فعالیتونو، په نړیواله کچه او افغانستان کې، ستر پرمختګونه کړي دي. د ښځو حقوقو فعالان او د ښځو حقوقو اداري باید په افغانستان کې له سړیو سره په ګډه کار وکړي څو د جنسیتونو ترمنځ مساوي او لږتاوتریخجنې اړیکې ورغوي.

# سرچينې او اخذليکونه:


ابي رافع لينا. «هغه فرصت چې له لاسه ووت؟ د جنسيتي مساوات په ګټه مداخلو کې د سړيو ښکېلتيا: له افغانستان راپورته شوي غبرونه. « د سولې ټينګښت او ودې ژورنال، دربېيمه ګڼه. (۲۰۰۷). مخونه ۸۲ تر ۸۷.

ابولغاد، ليلا. « ايا مسلمانې ښځې خونديتوب ته اړتيا لري؟» کمبرېج، ماسېتيو: د هارورډ پوهنتون نشرات، ۲۰۱۳.

احمدي، بلقيس او رفيع الله ستانيکزی. « په افغانستان کې د نارينتوب بياځلي تعريفول» د سولې لپاره د امريکا متحده ايالاتو انستيټيوټ، د سولې لنډيز ۲۴۳، ۲۰۱۸.

اذربايجاني – مقدم، سيپي. « افغان مېرمنې د ۲۱ مې زېږديزې پېړۍ په حاشيو کې.» په ملت جوړونه کې ورته پام نه دی شوی: په افغانستان کې مرستې، سوله او عدالت، اېډيټ: ډوني، ورمستر او نيلانډ، ۹۵- ۱۱۲. بلومفيلډ، سي ټي، کاميرين انتشارات، ۲۰۰۴.

بيلاوود، جولي. «کابل جشنواره: له جګړې په وروسته افغانستان کې جنسيتي سياستونه. « فلاديفيا، د پنسلوانيا پوهنتون انتشارات، ۲۰۱۵.

شيبيووندا، انډريا. « نارينتوب: په افغانستان کې کلتور، جګړه او رواني اړخونه يې» اکسفورډ: د اکسفورډ پوهنتون انتشارات، ۲۰۲۰.

شيبيوندا، انډريا. «د بېلا بېلو نارينتوبونو بدلول. د پښتنانو افغان نارينه وو په منځ کې موضوعيت، اجنسي او کلتوري اصطلاحات. « ۲۰۱۸.

شيبيوندا، انډريا. « جګړې زمونږ ټولنه ويجاړه کړې: نارينتوب، تاوتريخوالی او د پښتنو افغانانو په منځ کې د کلتوري اصطلاحاتو بدلون». په ننې افغانستان کې: د څلوېښت کلنې جګړې اغېز. اېډيټ. نعمت الله شهراني، ۱۷۹-۹۹. بلوګمنټون، انديانا، هندي پوهنتون انتشارات، ۲۰۱۸.

کانل. « د دروازې ساتونکو په منځ کې بدلون: په نړيوال ډګر کې سړی، نارينتوب او جنسيتي مساوات. « په ټولنه او کلتور کې د ښځو ژورنال ۳۰، ۳۱ مه ګڼه (۲۰۰۵): ۲۵-۱۸۰۱

کانل او ميژرشميدت. « حاکم نارينتوب: پر مفهوم بياځلي غور کول. « جنسيت او ټولنه ۱۹، ۲مه ګڼه (۲۰۰۵): ۲۹-۸۵۹

کانل. نارينتوبونه. بارکلي، د کاليفورنيا پوهنتون نشرات، ۲۰۰۵.

داولتازي، انيلا. « د افغانستان په اړه اعتراف کول. « کلتوري خوځښتونه ۱۸، ۳ مه ګڼه (۲۰۰۲): ۲۹۳-۳۱۱

ډولان، چاريس. « د نارينتوبونو نسکوربدل او کمزوري دولتونه – د شمالي يوګانډا موضوعي څېړنه. « هغه څه چې په نارينتوب کې اهميت لري! سړي، جنسيت او وده، اېډيټ: ايف کليور. دوربان: زيډ بوک، ۲۰۰۳.

ای چاويز، چونا. سيد مهدي موسوي او ليا ويلفريدا. «د جنسيتي نابرابری بل اړخ: په افغانستان کې سړي او نارينتوبونه. " کابل: د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره، ۲۰۱۲.

ايوريت-پينال، بريتاني او کوپانو راتيل. « د رغنيز، ځو اړخيز او حاکم نارينتوب په توګه پر دوديز نارينتوب بياځلي غور کول. « د ټولنپوهنې سويلي افريقا کتنې ۴۲، ۲ مه ګڼه (۲۰۱۵). مخونه: ۴-۲۲

د ښځو، سولې او امنيت په برخه کې د جيورج ټاون انستيټيوټ او د اوسلو د سولې څېړنو انستيټيوټ. د ښځو، سولې او امنيت د ۲۰۱۹ او ۲۰۲۰ کلونو نوملړ: د ښځو لپاره د محروميت، عدالت او امنيت له لارې د تل پاتې سولې لټون. واشنګټن، ۲۰۱۹.

حکيمي، عزيز او ټورن ويمپلمان. " له انځور پاتې شوي: هغه نارينه چې په افغانستان کې د اخلاقي جرمونو له کبله بنديان شوي.» برګين، جرمني: چاليېز ميشلين انستيټيوټ، ۲۰۱۸.

هومر، او ګوډ. « مثبته اروا پوهنه: د نارينه نورمونو د تاييدي په برخه کې د ګټورو اړخونو ارقامي ازمايښت. « د سړيو او نارينتوب اروا پوهنه (۲۰۱۰). ۰۳-۳۱۸.

د بشري حقونو د څار ډله. « ناباللی ميلمه: د ايران له لوري د افغان کډوالو او کوچېدلو خلکو د حقونو تر پښو لاندې کول. « د ۲۰۱۷ زېږديز کال د اکتوبر ۹ مه. www.hrw.org/report/۲۰۱۳/۱۱/۲۰/unwelcome-guests/irans-violation-afghan-refugee-and-migrant-rights

مارسډن، ماګوس. « نارينه سوداګر: په يوريشيا کې د افغان سوداګروو په منځ کې راکړه ورکړه، انسجام او نارينتوب. « د منځني ختيځ لرغونپوهنه ۱۴(۲۰۱۹): ۵۵-۷۲

مرتنين، هانري. « نورمونو او امنيت ته په ځير کتنه: په افغانستان کې سړي، نارينتوب، ښځه او د سولې ټينګښت. « څېړنيزه مقاله، د نړيوالو ګواښونو او سولې رزونې په برخه کې د څېړنو موسسه، ۲۰۱۸.

راتيلو، کوپانو. « د سويلي آفريقا په کوادکوز کې د دوديز نارينتوب او سړيو جنسيتونو په اړه ګروېږنه. « شاهي جغرافيايي ټولنه ۱۰۸، ۳ مه ګڼه (۲۰۱۲): ۳۱-۳۴۴

ريچارد پاول. « په جګړه او له جګړې وروسته رغونه کې ځوان نارينه او جنسيت: د لايبريا او سيرې ليون په برخه کې پرتله ييزې موندنې. « د جنسيت په بله نيمايي کې: په وده کې د نارينه وو مسايل، ايډېټ: ايان بونان اوو ماريا کوريا، ۱۴۲، واشنګټن، د نړيوال بانک ډلې انتشارات، ۲۰۰۶.

د افغانستان بيارغونې په چارو کې د امريکا متحده ايالاتو ځانګړې سرمفتش (سيګار). « افغان ښځې: يوې هراړخيزې پلټنې ته اړتيا ده څو د امريکا متحده ايالاتو د دفاع وزارت، حکومت او امريکا متحده ايالاتو د نړيوالې پراختيايي ادارې پرمختګ په ډاګه او وارزوي. « د سيګار پلټونکې راپور، ۲۰۱۴ کال ډسمبر، مخونه: ۱۵-۲۴

د افغانستان بيارغونې په چارو کې د امريکا متحده ايالاتو ځانګړې سرمفتش (سيګار). « د ملي لومړيتوبونو په پروګرام کې د جنسيتي برابرۍ پراختيا(پروموټ): د امريکا متحده ايالاتو نړيواله پراختيايي اداره دې ته اړتيا لري څو د دغو ۲۱۲ ميليوني ډالرو پروګرام لاسته راوړنې او د دوی د ساتلو په برخه کې د افغان حکومت وړتيا وارزوي. « د سيګار پلټونکې راپور، ۲۰۱۸ کال سپټمبر، مخونه: ۱۸-۲۹.

د افغانستان بيارغونې په چارو کې د امريکا متحده ايالاتو ځانګړې سرمفتش (سيګار). « د امريکا کانګرس ته مهالنۍ راپور. « سيګار، ۲۰۱۲ اکتوبر.

سومر، مارک. « د آفريقا کشرانو نارينه وو ونډول: نارينه ځوانان، ښځه، ښاريتوب، او د روندا قضيه. « د جنسيت بل نيمايي اړخ: په وده کې د سړيو مسايل. د نړيوال بانک ډلې انتشارات، واشنګټن، ۲۰۰۶.

ويمپلمان، ټورن، عزيز حکيمي او معصومه سادات. « دی بايد دا زده کړي، چې ښځه وړيا نه شي ترلاسه کولای: تبنتېدلې نارينه او د افغانستان په عدلي سيستم کې د نارينتوب په پام کې نيول. « ۲۰۲۰ مارچ، ۱-۱۸

# د غبرګون او نظرونو غوښتنه

د AREU اداره ډېره لېواله ده چې د دغې څېړنې د کاروونکو نظرونه واوري. که تاسو زموږ د خپرونو یو دوامداره لوستونکي یاست، د AREU لیکچر یا ورکشاپ کې مو ګډون کړی، کتابتون یې کاروئ، یا یوازې په دې وروستیو کې له دغه ادارې سره بلد شوي یاست، ستاسو نظرونه او غبرګون زموږ لپاره ارزښت لري. دغه نظرونه موږ سره مرسته کولی شي چې خپلې موخې په لا ښه ډول لاسته راوړو او د څېړنې په اړه خپلې تګلارې او د پایلو د شریکولو طریقې و ارزوو. د نظرونو شریکولو تر ټولو اسانه لار موږ ته ایمیل کول دي: areu@areu.org.af

یا کولی شئ موږ ته زنګ ووهئ: **۰۰۹۳۷۹۹۲۰۸۵۴۸**. تاسو چې هر څه غواړئ موږ ته یې ویلی شئ، خو په ممکنه ډول یو څه ګټور مالومات دا دي:

- تاسو له AREU سره څنګه اړیکه نیسئ (یعنې د خپرونو، غونډو یا نورو لارو)؟
- تاسو د AREU له څېړنو څخه د څه لپاره کار اخلئ؟
- تاسو د AREU خپرونې څنګه لاسته راوړئ؟
- تاسو د څېړنو بریښنایی که چاپ شوی بڼه کاروئ؟
- خپرونې څنګه کولی شي تاسو ته مالومات په لا ښه ډول وړاندې کړي؟
- زموږ د څېړنې د بهیرونو یا پایلو په اړه ستاسو نظرونه؟
- هغه برخې یا موضوع ګانې چې تاسو یې په اړه د څېړنو ترسره کېدو سپارښتنه کوئ؟
- د AREU هغه خپرونې یا فعالیتونه/غونډې چې ستاسو ډېرې خوښېږي؟
- ستاسو په اند موږ په کومو برخو کې خپل کار ښه کولی شو؟
- ستاسو د خوښې یا لېوالتیا ډګر، دنده یا څېړنه، او دغه راز موقعیت؟

# د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې نوې خپرونې

ټولې خپرونې د ډونلود لپاره(ښکته کولو لپاره) په www.areu.org.af کې د لاسرسي وړ دي، او ډېرې ئې د هارد کاپي(چاپي بڼه) په ډول په وړیا توګه په کابل کې د AREU له دفتر څخه لاس ته راوړلای شي.

| نیټه | د خپرونې نوم | لیکونکی ( مولف) | په دری ژبه | په پښتو ژبه | د څېړنې موضوع | د خپرونې ډول |
|---|---|---|---|---|---|---|
| اکتوبر ۲۰۲۰ | پیوستون، پیاوړتیا او زړورتیا: په افغانستان کې د ښځو سیاسی ګډون | انا لارسن، نواه کوبورن | | | جندر (جنسیت) | تحلیلی څېړنه |
| سپتامبر ۲۰۲۰ | په افغان سولې پروسه کې د ښځو ګډون: موضوعي څېړنه | شکریه آزادمنش، احسان الله غفوری | √ | √ | جندر (جنسیت) | موضوعي څېړنه |
| سپتامبر ۲۰۲۰ | منجنیق، پیک آپ او ټانکرونه: د پولو دواړو غاړو ته تولید او سوداګري او د نیمرزو پولې ته څېرمه پرتو سیمو د سیاسي اقتصاد په بدلون کې یې رول | دیوید منسفیلد | | | حکومتولی | تحلیلی څېړنه |
| جولای ۲۰۲۰ | افغانستان کی له کاوید ۱۹ نه د جندر په هکله خبرداری | | | | XII: د کاوید ۱۹اغیزه پرهغو ښځو چی د کوکنارو له کرهنی سره تړاو لری | جندر |
| جولای ۲۰۲۰ | د قاطرانو او نقلیه وسایطو تګ راتګ: د پولی هاخوا تولید او سوداګری او دنتګرها د سیاسی اقتصاد جوړېښت | دیوید منسفیلد | | | حکومتولی | تحلیلی څېړنه |
| جون ۲۰۲۰ | کله چې اوبه وچیږي: کله چې د افغانستان په سویل لویدیځه دښته کې اوبه وچیږي او د ۱.۵ میلیونه وګړو ژوند له خطر سره مخ کیږي، څه باید وشي؟ | دیوید منسفیلد | √ | √ | د طبیعی سرچینی مدیریت | توضیحی پاڼه |
| می ۲۰۲۰ | د هلمند خوړو زون: یوه خیالي بریا | شهلا متین | | | د طبیعی سرچینی مدیریت | د پالیسی نوټ |
| می ۲۰۲۰ | د کابل زون د اوبو په حوضی کې د سطحي او ځمکې لاندې اوبو تعامل | نجیب الله سدید | | | د طبیعی سرچینی مدیریت | د پالیسی نوټ |
| اپریل ۲۰۲۰ | کله چې اوبه ختمیږي: د سویل لویدیځ افغانستان د دښتو ظهور (او حتمی زوال) او پر کډوالی ، کوکنارو او ثبات یې اغیز | دیوید منسفیلد | | √ | د طبیعی سرچینی مدیریت | تلفیقی خریزه |
| اپریل ۲۰۲۰ | د کابل زون د اوبو په حوضی کې د سطحي او ځمکې لاندې اوبو تعامل | نجیب الله سدید | √ | √ | د طبیعی سرچینی مدیریت | تحلیلی څېړنه |
| مارچ ۲۰۲۰ | په افغانستان کې ټکنالوژي او بشري مرسته: په ناامنه شرایطو کېد معلوماتو راټولولو لپاره له ټکنالوژۍ څخه ګټه اخیسته | داکتر رودریګو مینه | | | ټولنیز ملاتړ | تحلیلی څېړنه |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| مارچ ۲۰۲۰ | آیا د افغانستان دولت د کوچیانو او ځایي اوسیدونکو ترمنځ په شخړه کې په بریالي ډول مداخله کولای شي؟ | داکتر انتونیو جیستوزی | | | د طبیعي سرچینې مدیریت | د پالیسی نوټ |
| جنوری ۲۰۲۰ | مالیه: د دولت جوړولو لپاره اړین شرط، په افغانستان کې د مالیې سیستم ته یوه کتنه | داکتر سراج الدین ایثار | | | حکومتولي | د پالیسی نوټ |
| سپتامبر ۲۰۱۹ | په افغانستان کی د کوچیانو د میشتیدنی بهیرونه او پر شخړې در هغوی اغیزی | داکتر انتونیو جیستوزی | √ | √ | د طبیعي سرچینی مدیریت | موضوعی لیکنه |
| د ۱۳۹۸ غبرگولې | لمر په دوو گوتو نه پټیږي | ډوېډ منسفلید | √ | √ | د طبیعي سرچینې مدیریت | موضوعی لیکنه |
| د ۱۳۹۷ لړم | د ۱۳۸۲ کال د اساسي قانون په رڼا کې د افغانستان د عامه اداري سازمان او جوړښت څېړنه | میرویس ایوبی او ډاکتر هارون رحیمی | √ | √ | اساسي قانون | د پالیسی نوټ |
| د ۱۳۹۷ مرغومی | د ۱۳۸۲ کال د اساسي قانون په رڼا کې د افغانستان د عامه اداري سازمان او جوړښت څېړنه | میرویس ایوبی او ډاکتر هارون رحیمی | √ | √ | اساسي قانون | تحلیلی څېړنه |
| د ۱۳۹۷ سلواغه | د افغانستان پارلمان: د ۲۰۰۱ کال راهیسې د اساسي قانون پر بنسټ د ورکړل شوو واکونو اوعملی کړنو پرتله | شمشاد پسرلی او زلمی مالیار | √ | √ | اساسي قانون | د پالیسی نوټ |
| د ۱۳۹۷ سلواغه | د افغانستان پارلمان: د ۲۰۰۱ کال راهیسې د اساسي قانون پر بنسټ د ورکړل شوو واکونو اوعملی کړنو پرتله | شمشاد پسرلی او زلمی مالیار | √ | √ | اساسي قانون | تحلیلی څېړنه |
| د ۱۳۹۷ سلواغه | د کوچیتوب، د کوچیانو او د سیمې د اوسېدونکو ترمنځ د شخړو په مدیریت کې د افغانستان د دولت رول | ډاکتر انتونیو گیستوزی | √ | √ | د کوچیانو او د سیمې د اوسیدونکو ترمنځ ښخړې | تحلیلی څېړنه |
| د ۲۰۱۸ اپریل | نور معیاری پروگرامونه بس دي: په ماتیدونکو شرایطو کې اقتصادي پرمختک | SLRC | | | تولنیز ملاتړ | لنډه لیکنه |
| د ۲۰۱۸ مارچ | یوه نقشه ایزه څېړنه: په افغانستان کې د انسانانو له قاچاق سره د مبارزې بنسټیز مکانیزمونه | سوپروا نارا سیمهایا | | | ټولنیز ملاتړ | موضوعی لیکنه |
| د۲۰۱۸ مارچ | یوه نقشه ایزه څېړنه: په افغانستان کې د انسان له قاچاق سره د مبارزې بنسټیز مکانیزمونه | ولی محمد کندیوال | √ | √ | ټولنیز ملاتړ | د پالیسي یادښت |
| د ۲۰۱۸ جنوري | ښاري خوندیتوب: په افغانستان د ښاري سولې جوړونې پروگرام ته بیا کتنه | یما ترابي | √ | √ | ټولنیز ملاتړ | د پالیسي یادښت |
| د ۲۰۱۸ جنوری | په افغانستان کې د میشتو کوچیانو د شخړو ډولونه | انتونیو گیستوزي | √ | √ | د طبیعي سرچینې مدیریت | موضوعی لیکنه |
| د ۲۰۱۷ نومبر | ناروغتیا یا علامې؟ په ۲۰۱۷ کال کې د افغانستان د ودې کوونکو ترياکو اقتصاد | ویلیام ای. بایرد | | | د طبیعي سرچینی مدیریت | د پالیسي یادښت |

ISBN 978-9936-641-63-1

0093 79 960 8548
areu@areu.org.af
www.areu.org.af

د افغانستان
د څېړنې او
ارزونې اداره

AREU

څېړنه د به افغانستان لپاره